# دې عیسیٰ مسیح په حق کې دې لوقا انجیل

## دې کیتوب پیژندګالي

دې لوقا انجیل دې ۶۰ نه تر ۷۰ میلودي کولینې پره دې لوقا په نوم یو ساړي لیکلئ دائي. لوقا یو غیریهودي طبیب او دې پولوس رسول دې نژدې ملګریې نه وه. لوقا دې پولوس سره دې عیسیٰ مسیح دې زري په رساولې کې مراسته کړله او زیوت سفرینه یې ورسره کړي دي. یغ دا زرائي چې دې عیسیٰ مسیح په حق کې دائي، دې تیوفیلوس په نوم یو ساړي ته چې په چګا رتبه مامور و، لیکلئ و (لوقا ۱ : ۱-۴). لوقا دې څو عیني شائدونې نه مالیمات روټول کړل او دې روح القدس په لیار وشونه یې دې یغ نه یو منظم او سام تفصیل دې عیسیٰ دې ژوند په حق کې جوړ که.

لوقا په دا انجیل کې دا بیانوي چې انسان څرنګې دې عیسیٰ مسیح په وسیله خلوصین مینده که. په دا نه دې ورستې چې اوالیني انسان ګناه وکه او دې خدائ نه لرې شه، اغا الهي منصوبه چې دې انسان دې خلوصین په خاطر جوړه شویې وه او نابیونې دې یغ په حق کې نبوت کړائي و، دې عیسیٰ مسیح دې ژواندین په پیشې کې عملي شه.

دې لوقا انجیل دې عیسیٰ مسیح په ژوند کې دې یغ دې زیژیدنې دې



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وخت نه دې اسمون تر خاتلې پره مهمې پېښې بيانه وي. په د غ انجيل کې عيسیٰ هه دې يهوديونې او هه دې نورې خالکې دې خلوصاوينکي په رانګ وير پيژاني. په د غ رانګ دې لوقا انجيل دې ټولنې دې ټيټ موقف خالکي لکه غير يهوديون، شځې، کونډې، دې ټولنې نه وررړل شوېي خالک، غريبونې، محتاجې او معيوبې خالکې ته دې عيسیٰ په خيذمات بندي ټينګورائي کو. ټول انسانون مينه ته اجات لري او عيسیٰ دې مينې او محبت سار چنه دو. دې انسان ډير مهم او اساسي داړد ګناه دائي او عيسیٰ انسان ته دې ګناه نه خلوصين ويرکاوي. په د غ رانګ دې لوقا په انجيل کې په داعو، روح القدس، دې عيسیٰ په ماموريت ليا خيذمات کړلې کې دې شځې په رول او دې خدائ دې خو دې ګونائينې په باخشنه بندې زيوت ټينګورائي شوائي دائي.

دې لوقا په انجيل کې اساسي ټينګورائي دې خدائ په بدشايئ بندې دائي. دا اغا وخت دائي چې خدائ په خالکې بندې حکومت کو چې دې خالکې او دې ټولنې په ژوند کې مهم بادلينينه روميانځ ته کيژي. عيسیٰ دې خدائ په حکومت ليا واکمنئ کې ځونته رول لري. اغا دې مسيح ليا وعده شوي بادشا په رانګ روغائي ترځو په دنيو کې دې خدائ حکومت روميانځ ته کو.

## دې موضوګونې فهرست



Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

سریزه: ۱ : ۱ - ۴

دې بپتسمه ویرکاوینکي یحییٰ او دې عیسیٰ مسیح زیږیدنه او واړیکتوب: ۱ : ۵ - ۲ : ۵۲

دې بپتسمه ویرکاوینکي یحییٰ ماموریت: ۳ : ۱ - ۲۰

دې عیسیٰ بپتسمه او اوزمیشتینه: ۳ : ۲۱ - ۴ : ۱۳

په جلیل کې دې عیسیٰ مسیح ټولنیز خذماتینه: ۴ : ۱۴ - ۹ : ۵۰

دې جلیل نه تر یروشلمه: ۹ : ۵۱ - ۱۹ : ۲۷

په یروشلم او دې یغ په شو او خو سیمې کې ورستینئ افته: ۱۹ : ۲۸ - ۲۳ : ۵۶

دې عیسیٰ بیا روژواندي کیدل، روشکاره کیدل او پورته خاتل: ۲۴ : ۱ - ۵۳



Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

# ۱ ۞۱ شوغلیه تیوفیلوسه:

ډیرې خالکې کوشش کړائي دائي ترڅو اغا پیشې بیان کي چې دې میژ په میانځ کې رومیانځته شویې دي. ۞۲ یغې اغا څه لیکلي دي چې میژ ته عیني شائدونې او دې خدائ دې کلام دې خیذماتګورونې دې خو رو راسیدلیې دي. ۞۳ شوغلیه تیوفیلوسه، مو هه په خپل وور سره ټولې پیشې دې سار نه په غور سره وخیړلې، بیا دا روته شه شکاره شوه چې اغا توس ته په ترتیب سره ولیکمه. ۞۴ دا کور دې دغې دې پوره کمه ترڅو ته دې یغې ټولې شایونې په حق کې چې ځنې خبر شوائي یې، په اقیقات پوئي شې.

## دې یحییٰ دې زیږیدنې په حق کې پیشګوئي

۞۵ دې یهودیې دې بادشا هیرودیس په زمونه کې یو یهودي امام و چې زکریا نومیده او دې ابیا دې ډالي نه و. دې یغ شځه الیزابت نومیدله او اغا هه دې هارون امام دې کورانیٰ نه وه. ۞۶ اغا دواسره دې خدائ په نَظیر کې صادق خالک وه او په پیره رانګ یې دې تیشتن په ټول قوانین او حکمینه بندې عمل که. ۞۷ خو یغې الود نه لوره، دې ځکه چې الیزابت شانډه وه او دواسره ډیر زوړه وي.

۞۸ کله چې دې خدائ په کیر کې دې خیذمات وور دې زکریا ډالي ته



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وراسیده، بیا زکریا دې امام په رانګ په خپله چار کې لګیا شه. ﴿٩﴾ دې
امامونې دې دود دې مخې اغا دې خلې په وسیله غوره شه، ترخو بیت
المقدس ته نناوځي او خوشبیي ولګاوي. ﴿١٠﴾ دې خوشبییئ دې لګیاولي په
وخت ګاڼ شمیر عبادت کاوینکي دې ورچاني ویلوړ وي او داعو یې کړله.
﴿١١﴾ په دا وخت کې دې تیشتن یوه فرشته زکریا ته ویر شکاره شوله چې دې
قربانئ دې ځوئي شي خو ته چې خوشبیي پکې لیکیدله، ویلوړه وه. ﴿١٢﴾
کله چې زکریا اغا ولیدله بیا جاتکه یې وخواړله او ډور په روغائي. ﴿١٣﴾ خو
فرشتې یغ ته وویل، "اې زکریا، مه ډاریږه! دې تو داعو قابیله شویې دو او
دې تو شځه الیزابت و توته یو زیائي وزیژاوي او ته و په اغا بندې یحییٰ نوم
کشیژدې. ﴿١٤﴾ اغا و دې تو دې پوره دې خواشئ او خواشولئ سبب شي او
ډیر خالک و دې یغ په زیژاول بندې خواشولي وکو. ﴿١٥﴾ دې ځکه چې اغا
و دې تیشتن په نَظیر کې ستر ساړائي وي. اغا باید ایڅکله شاروپ او لیا
داسې کیم شائي ونه تشي چې په نشه شي. اغا و دې مور دې ګډې نه
دې روح القدس نه ډاک وي، ﴿١٦﴾ او ډیر اسرائیلیون و دې خپل تیشتن
خدائ خو ته روړاوي. ﴿١٧﴾ یحییٰ و په اغا روح او قدرات سره چې الیاس
نبي لوره دې تیشتن په مخکې راون وي، ترخو پلارینه او الودینه سره په
خوله کو، سرکشه کاسون دې نیکونې دې حکمت نه ډاکې لیارې ته رو
وګرځاوي او خالک دې تیشتن روتلل ته تایور کو."



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۸ زکریا فرشتې ته وویل، ”زه څرنګکې په دا بندې یقین کړائي شمه چې داسې و وشي؟ دې ځکه چې زه زوړ ساړائي یمه او ښځه مې هه زاړه دو.“

۱۹ فرشتې په ځاوب کې وویل، ”زه جبرائیل یمه چې دې خدائ په حضور کې ودارمه. زه رولږل شوائي یمه چې دې تو سره خبرې وکمه او دا زرائي درته دیر کمه. ۲۰ خو کسه، ته و ګونګ شې او دې دغ شایونې تر پیشیدې پره و خبرې نه شې کړائي، دې ځکه چې تو دې مو په خبرې چې په ټاکل شوي وخت کې و رشتیا شي، یقین ونه که.“

۲۱ په دا وخت کې خالکې چې زکریا دې پوره انتظار که او حیرون وي چې اغا ویلې بیت المقدس کې دامره زیوت وخت تیر که. ۲۲ کله چې اغا رووته، دې یغي سره یې خبرې نه شوې کړائي. بیا دئ پوئي شول چې یغ په بیت المقدس کې کیمه رویا لیدلیې دو، دې ځکه چې اغا ته یې په لوسینه اشارې کړې خو خبرې یې ونه شوې کړائي.

۲۳ کله چې دې خدائ په کیر کې دې زکریا دې خیذمات وخت اخیر ته وراسیده، بیا اغا په ښتې خپل کیر ته لوړ شه. ۲۴ څه وخت دې ورستې دې یغ ښځه الیزابت امیدوره شوله او پینځه میاشتې یې خپل ځون دې خالکې نه پټ وسوته او دې خپل ځون سره و یې ویل: ۲۵ ”تیشتن ویس دې مو دې پوره دا کور وکه او په مو یې راحم وکه او زه یې دې خالکې په



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

مخکښې دې شرم نه خلوصه کړمه."

## دې عیسیٰ مسیح دې زیږیدنې په حق کې پیشګوئي

۲۶ دې الیزابت دې امیدورئي په شپیږمه میاشت خدائ جبرائیل فرشته
دې جلیل په ولایت کې دې ناصرت په نوم یو شار ته ولږله، ۲۷ ترڅو یوې
پیغلې ته چې دې یوسف نومي ساړي سره یې چې دې داود بادشا دې
کورانئ نه و ویر په نوم شوې وه، ویرشي. دې یغې پیغلې نوم مریم و. ۲۸
فرشته اغا ته روغله او ویې ویل، "سالوم په تو چې ډیر فاضل دربندې
شوائي دائي، تیشتن دې تو سره مال دائي." ۲۹ مریم دې فرشتې په خبره
ډیره ورخاطو شوه او په فکر کې ډیبه شوه چې دې دغې خبرې معنی و څه
وي. ۳۰ فرشتې یغې ته وویل، "اې مریمې، مه ډاریږه! خدائ په تو مهربونه
شوائي دائي. ۳۱ کسه، ته و امیدوره شې او زیائي و دې وشي او دې یغ
نوم و عیسیٰ کشیږدې. ۳۲ اغا و ستر شخصیت وي او دې خدائ تعالی
دې زي په نوم و یود شي. تیشتن خدائ و دې یغ دې نیکه داود تخت اغا
ته ویرکو. ۳۳ اغا و دې تل دې پوره دې یعقوب په الود بندې بدشائي کو او
دې یغ بدشائي و ایښکله نه خاتمیږي." ۳۴ مریم فرشتې ته وویل، "داسې
څرنګې کیدائي شي؟ زه لیا پیغله یمه او تر ویسه وده شویې نه یمه." ۳۵
فرشتې په ځاوب کې وویل، "په تو و روح القدس نازل شي او دې خدائ



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

تعالی قدرات و په تو بندې سیوره وکو او دې د غ اماله و اغا سپیڅلئ
واړیکائي دې خدائ تعالی دې زي په نوم یود شي. ۳۶ وکسه، دې تو خپل
ووله الیزابت و هه په زوړه عمر کې زیائي روري. سره دې دغې چې اغا ته
شانده او بې الوده ویل کیدله، خو ویس شپیږ میاشتې شي چې امیدوره دو.
۳۷ دې ځکه چې دې خدائ دې پوره ایخ کور ناشینائي نه دائي.“ ۳۸
مریم وویل، ”زه دې تیشتن خیذماتکوریې یمه. تو چې څه وویل داسې دا
وشي.“ او فرشته ځنې لوړله.

## مریم دې الیزابت لیدلې ته ویرخي

۳۹ څه وخت دې ورستې مریم راونه شوله او په بیړه یو شار ته چې دې
یهودیې په غرانئ سیمه کې و، لوړه. ۴۰ اغا دې زکریا کیر تا ویرنناوتله او په
الیزابت یې سالوم وچوه. ۴۱ کله چې الیزابت دې مریم سالوم ورویده، بیا په
ګېډه کې یې واړیکي ټوپینه ووالل. الیزابت دې روح القدس نه ډاکه شوله
۴۲ او په چګ اووز سره یې وویل، ”ته په ټولې شځې کې یوه ډیره مباراکه
شځه یې او اغا واړیکائي مباراک دائي چې دې تو نه و پیدو شي! ۴۳ زه
څوک یمه چې دې مو دې مشر مور دا دې مو لیدلې ته روشي؟ ۴۴ کله
چې دې تو دې سالوم اووز دې مو په غوږ شه، بیا واړیکي دې خواشولئ نه
دې مو په ګېډه کې ټوپینه ووالل. ۴۵ ته څومره بختاوره یې چې په دا بندې



Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

دې يقين وکه چې تيشتن درته څه ويلي وي اغا و پيره شي.“

## دې مريم دې ثنا او صفات سندره

۴۶ مريم وويل:

”بيانوي مې زړه سترتوب دې تيشتن

۴۷ دائي دې مو روح خواشول

دې څکه خدائ مې دائي ژغورينکائي

۴۸ دې څکه زه يې کړمه يوده، خپله عاجزه خيذماتګوره

دا دې ويس نه و تړول خالک مو بختاوره بولي

۴۹ دې څکه قادر خدائ کړي دې ستر کورينه موته

چې سپيڅلئ يې دائي نوم

۵۰ دې يو نسل نه تر بله کو رحمت

په اغا خالک بندې چې کو ډور څني

۵۱ يغ کړي دې غوټ کورينه په خپلي متې



Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

کبرجن خالک يې خوره ووره کړل

دې خپلې زړينې دې خيولينې سره

۵۲ رو سنړوالي يې شاهون دې دې خپلې تاختينې نه

سرلوړي کړي يې دې عاجزه خالک

۵۳ موړه کړي يې دې وږي په شه شايون

مالدار خالک يې وروه دې تش لوسينه

۵۴ مراسته يې کړيې دو دې خپل خادم اسرائيلې سره

راحم يې کړائي دائي تل په خپل خالک

۵۵ لکه يې خرنګې چې وعده کړيې وه دې مېژ نيکونې،

ابراهيم او الودې سره يې دې تل دې پوره“

۵۶ مريم نژدې درې مياشتې دې اليزابت سره پوتې شوله او بيا په ښته خپل کير ته لوړه.

## دې يحيیٰ زيږيدنه



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۵۷ اغا وخت رو وراسیده چې الیزابت واړیکائي وزیږاوي او دې یغې زیائي پیدو شه. ۵۸ ګاوندېیونې او خپلونې یې ورویدل چې تیشتن په یغې بندې ډیر راحم کړائي دائي او ټولې ورسره خواشولي وکړه. ۵۹ کله چې واړیکائي دې ووتې وریځې شه بیا اغا روغلل چې سونات یې کو او غوشتل یې چې دې خپل پلور زکریا نوم په کشیږدي. ۶۰ خو مور یې وویل، ”نه، دې یغ نوم و یحییٰ وي.“ ۶۱ یغې ورته وویل، ”خو دې توسې په خپلونې کې په دا نوم څوک نشته.“ ۶۲ بیا یغې دې یغ پلور ته اشاره وکړه او پشتنه یې څنې وکړه چې په واړیکي بندې کیم نوم غوړي کشیږدي. ۶۳ زکریا یوه تاخته رو وغوشتله او په اغا بندې یې ولیکل، ”دې یغ نوم یحییٰ دائي.“ اغا ټول ډیر حیرون شول. ۶۴ زکریا په مخ واپس په خبرې کړل روغائي او خدائ ته په ثنا ویلې یې شیري وکړه. ۶۵ ټول ګاوندېیون وډاریدل او دې یهودیې په ټوله غرانئ سیمه کې خالکې دې دغې شایونې په حق کې خبرې کړلې.

۶۶ ار چا چې دا خبره ورویدله بیا دې یغې په حق کې یې فکر که او پشتنه یې کړله، ”دې دغ واړیکي نه و په روتلینکیې وخت کې څه جوړ شي؟“ دې څکه چې دې تیشتن لوس دې یغ په سار بندې و.

## دې زکریا پیشګوئي

۶۷ دې یحییٰ پلور زکریا دې روح القدس نه ډاک شه او داسې



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

پیشګوئي یې وکړه:

۶۸ ”ثنا او صفات دا وي تیشتن ته چې دائي خدائ دې اسرائیلې
ځکه روغائي چې وکو مراسته دې خپل قوم سره چې کو ازود
اغا

۶۹ یغ پیدو که میژ ته زوراور ژغورینکائي
دې الودې نه دې داود چې خیذماتګور یې و خپل

۷۰ لکه څرنګې چې مخکې یې وي ویلي
په خوله دې سپیڅلیې مختینئ پیغمبروني

۷۱ چې مو خلوص کو دې خپلي دیشمنوني نه
دې یغې خالکې نه چې کو کرکه دې میژ نه

۷۲ راحم و وکو اغا دې میژ نیکینه بندې
او رویوده وي و خپل سپیڅلئ لوظ

۷۳ اغا قاسام چې و خواړلئ یغ



Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

دې مېږ دې نيکه دې ابراهيم سره

۷۴ چې و کو خلوص اغا مېږ دې ديشمنونې نه

چې بې ډوره وکې مېږ خيذمات دې يغ

۷۵ په خپل ټول ژوند کې

دې پوکئ او صداقت سره

۷۶ او اې واړيکيه دې مو

ته و يوديږې پيغمبر دې خدائ تعالی

دې ځکه چې ځې و په تيشتن نه دې مخه

چې کې تايوره ليار ته دې يغ دې پوره

۷۷ چې په دا پوئې کې قوم دې يغ

چې دئ و وميمې خلوصين

دې خپلې ګونائينې په باخشلې سره

۷۸ دې مېږ دې خدائ دې راحم او مهربونئ په سبب



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

په میژ و رو ووخیژي لمر دې ګائیز

پوس دې اسمون نه

۷۹ ترخو چې روالي رہو په اغا خالک بندې

چې تیراوي ژوند په تیاره کې دې مارګ

او بروبار کو قدامینه دې میژ دې صولحې او سالومتئ په لیار"

۸۰ اغا واړیکائي غوټیده او په روحاني رانګ طاقتور کیده او تر یغ وخت
پره په داشته کې پنډیده، ترخو دې اسرائیلې خالک ته په جاوات رانګ
بندې ویر شکاره شه.

## دې عیسیٰ زیژیدنه

(متي ۱: ۱۸ - ۲۵)

۲ ۱ په اغا وخت کې بادشا اګوستوس دې روم په ټوله بادشایئ کې
دې سار شمرینې په خاطر یو فرمان شیري که. ۲ دا اوالینئ سار شمیرنه وه
چې دې شام دې والي کرینوس په وخت کې وشوه. ۳ ار څوک خپل شار
ته لوړل چې خپل نوم ولیکو. ۴ بیا یوسف هه دې جلیل دې ناصرت دې
شار نه دې یهودیې دې ولایت بیت لحم شار ته چې دې داود بادشا دې



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

زيږيدنې ځوئي و لوړ شه، دې ځکه چې اغا دې داود دې کورانی نه و. ۞٥
يوسف دې مريم سره چې لوس نيوائي يې و او اميدوره وه، دې نوم ليکنې
دې پوره وولته لوړ شه. ۞٦ او کله چې اغا په بيت لحم کې و دې يغې دې
واړيکي دې زيږيدلي وخت رو وراسيده. ۞٧ يغي خپل اوالينئ الود چې
ژنکائي و، وزيژوه. اغا يې په رنې کې ونغوړه او په خوار کې يې کشياش،
دې ځکه چې په ميسوفر خونه کې دې يغې دې پوره ځوئي نه و.

## شپونه ته دې فرشتې زرائي

۞٨ په اغا سيمه کې څو شپونه وي چې په شو او خو منځکې کې
پنډيدل او دې شپې و يې په خپلې رامې بندې پام که. ۞٩ دې تيشتن
فرشته اغا ته شکاره شوه او دې تيشتن دې جلال رڼو په اغا بندې
وچړکيدله. اغا ساخت وډاريدل. ۞١٠ خو فرشتې اغا ته وويل، "مه ډاريژئي،
مو توسې ته يو زرائي روړائي دائي چې دې ټولې خالکې دې پوره و يوه
ستره خواشولي وي. ۞١١ دا نن دې داود په شار کې دې توسې دې پوره يو
خلوصاوينکائي زيژيدلائي دائي چې اغا مسيح او تيشتن دائي. ۞١٢ او دې
توسې دې پوره و دا ناخشه وي چې يو واړيکائي و مينده کئ چې په رڼې
کې و نغشتئ شوائي وي او په خوار کې و پروت وي." ۞١٣ بيځيه دې يغې
فرشتې سره يو ستر اسمونې لشکر روشکاره شه چې دې خدائ ثنا يې



Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

ويله:

۱۴ ”خدائ ته دا وي جلال په چګ اسمونينه کې

او صولحه او سالومتي دا وي په منځکه بندې

په اغا خالک بندې چې ځنې روضي دائي اغا“

۱۵ کله چې فرشتې اغا پريشول او په ښت اسمون ته لوړې، بيا شپني يو بل ته سره وويل، ”روځئ چې بيت لحم ته لوړ شي او اغا څه چې پيش شوي دي او تيشتن ميژ دې يغي نه خبر کړي يې، ووينې.“ ۱۶ بيا اغا په منده لوړل، مريم او يوسف يې پيدو کړل او وېي ليدل چې واړيکائي په خوار کې پروت دائي. ۱۷ کله چې شپني اغا واړيکائي وليد، بيا څه چې يې دې يغ په حق کې اروېدلي وي، ټول يې خبر کړل. ۱۸ ار چا چې دې شپني خبرې اروېدلې بيا حيرون پوتې کيدل. ۱۹ خو مريم دا ټول شايون په خپل زړه کې سوتل او دې يغي په حق کې يې ډير فکر که. ۲۰ شپونه په ښت لوړل او څه يې چې اروېدلي او ليدلي وي دې يغي دې پوره يې دې خدائ سترتوب بيانوه او ثنا يې ويله، دې ځکه دا اغا څه وي چې فرشتې يغي ته ويلي وي.

## په عيسیٰ بندې نوم ايشاول



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۲۱ په وتمه ورځ کله چې د واړيکي د سوناتولې وخت رو وراسيده،
بيا په اغا يې عيسیٰ نوم کشياش. دا اغا نوم و چې مخکې په دا نه چې
مريم اميدوره شي فرشتې په ايشئ و.

## خدائ ته د عيسیٰ وقف کيدل

۲۲ کله چې د موسیٰ د شريعت د مخه د يغې د پوکولي د
مراسمې وخت رو وراسيده، بيا يغي اغا واړيکائي يروشلم ته بوته چې
تيشتن ته يې وير مخته کو. ۲۳ لکه خرنګي چې په شريعت کې ليکل
شوي دي، "ار اوالينئ نر واړيکائي چې پيدو شي بايد تيشتن ته وقف
شي." ۲۴ بيا يغي د شريعت د مخه قرباني وکړله يعني يوه جوړه
کاوتارې ليا دوې ځووني بابغيې.

۲۵ په اغا وخت کې په يروشلم کې د شمعون په نوم يو ساړائي
پنديده. اغا يو صادق او پرهيزګورائي ساړائي و او د اسرائيلې د ژغورنې
انتظار يې که او روح القدس ورسره و. ۲۶ روح القدس شمعون ته دا په
شکاره ويلي وي چې ترخو پره د تيشتن د خو نه وعده شوائي مسيح
ونه ويني، ته و نه مړ کيژې. ۲۷ شمعون د روح القدس په ليار وشونه د
ننه بيت المقدس ته روغائي. کله چې مور او پلور واړيکائي عيسیٰ وولته
رواست ترخو د يغ د پوره اغا څه وکو چې د موسیٰ شريعت يې



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

غوشتنه کړله، ۲۸ بیا شمعون اغا واړیکائي په غیږ کې وخاست او دې
خدائ ثنا یې وویله:

۲۹ "اې تیشتن تعالی، ویس دې ریخصات که
خپل خادم دې دغې دنیو نه په سالومتئ سره
لکه چې څرنګې تو وعده کړیې وه
۳۰ دې ځکه چې مو دې تو خلوصین ولیده په خپلې سترګې
۳۱ اغا خلوصین چې تایور کړائي دائي تو
دې ټولې خالکې په حضور کې
۳۲ یوه رڼو چې و شکاره کو اراده دې تو
غیر یهودې ته
او کو و دې تو قوم اسرائیل چګ ساري"

۳۳ دې واړیکي مور او پلور په اغا خبرې چې شمعون دې یغ په حق
کې وکړې حیرون شول. ۳۴ شمعون دې یغې دې پوره دې خیر داعو وکړه او
دې عیسیٰ مور مریم ته یې وویل، "دا واړیکائي په اسرائیلې کې دې ډیرې



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

دې بربودئي او ليا چګ سارئي دې پوره دې خدائ دې خو نه غوره شوائي دي. اغا دې خدائ دې خو نه يوه ناخشه دو چې ډير خالک و يې مخالفت وکو ۳۵ او په دا رانګ و دې ډيرې زړي پټ خياليـنه جاوات شي. او اې مريمې، غم و لکه دې تيرې تيرې په رانګ دې تو زړه هه سروائي سروائي کو.“

۳۶ وولته يوه پيغمبره وه چې حنا نوميدله او ډيره زاړه وه، اغا دې فنوييل لير وه او دې اشير دې قابيلې نه وه. اغا په ورو نه دې ورستې ګوشي اووه کوله دې خپل ميړه سره پنډه شوې وه او په اغا نه دې ورستې يې ميړه مړ شه. ۳۷ ويس اغا څالور اتيا کولنه او کونډه وه. اغا ايځکله دې بيت المقدس نه نۀ واتله، بلکې شپه او وريځ و يې په ريژه نيولې او داعو کړلې سره دې خدائ عبادت که. ۳۸ حنا په اغا وخت کې يوسف او مريم ته روغله، دې خدائ شکر يې ويوست او دې يغې ټولې خالکې سره يې چې دې يروشلم دې ازودئي په تامه وي دې يغ واړيکې په حق کې يې خبرې وکړې.

## عيسیٰ په ناصرې کې ستر شه

۳۹ کله چې يوسف او مريم ار څه دې شريعت دې مخه سار ته وراساول، بيا په ښټ خپل شار ناصرت ته چې په جليل کې و، رو ګوډ



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

شول. ۴۰ اغا واړيکائي ستر او طاقتور شه، اغا دې حکمت نه ډاک و او
دې خدائ فاضل ورسره و.

## دولاس کولن عيسیٰ دې خدائ په کير کې

۴۱ دې عيسیٰ مور او پلور و ار کول دې فسحې دې اختر دې پوره
يروشلم ته تلل. ۴۲ کله چې عيسیٰ دولاس کولن شه بيا اغا دې خپل دود
او دستور دې مخې دې اختر دې پوره يروشلم ته لوړل. ۴۳ کله چې دې
اختر وريځې اخير ته وراسيدلې، اغا په څټ خپل کير ته راون شول او
عيسیٰ چې ليا واړيکائي ژنکائي و په يروشلم کې پوتې شه، خو دې يغ
مور او پلور ځنې خبر نه وي. ۴۴ يغې ګمون که چې عيسیٰ دې نورې
ميسوفرې په ډاله کې راون دائي. يغې ټوله وريځ سفر وکه او بيا يې دې
خپلې خپلونې او ملګريې په ميانځ کې دې يغ په غوشتلې شيري وکړه. ۴۵
کله يې چې اغا پيدو نه که بيا په څټ يروشلم ته لوړل ترخو اغا وغوړي. ۴۶
درې وريځې ورستې يې اغا په بيت المقدس کې پيدو که چې دې دينې
عالمونې سره نوست و، اغا ته يې غوژ نيولائي و او پشتنې يې ځنې کړلې.
۴۷ ار چا چې دې عيسیٰ خبرې ارويدلې، بيا دې يغ پويا او ځاوبينه ته
حيرون پوتې کيدل. ۴۸ کله چې مور او پلور يې اغا وليد، بيا حيرون شول
او مور يې ورته وويل، "کسه زامنه، دې ميژ سره دې ويلې داسې وکړل؟ مو



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او پلور دې په ډېرې اندېشنې سره غوښتلې.“ ۴۹ يغ ورته وويل، ”توسې
ويلې زه غوښتمله؟ ايا په دا نه پئيدلئ چې زه بايد دې خپل پلور په کير کې
پنډ شمه؟“ ۵۰ خو اغا دې يغ دې خبرې په مقصد پوئي نه شول. ۵۱ بيا
عيسىٰ دې يغې سره په ښتې ناصرت ته لوړ شه او دې يغې تابع و. مور يې
دا ټولې خبرې په خپل زړه کې سوتلې. ۵۲ عيسىٰ دې قد او حکمت په
لحاظ ستريده او دې خدائ او خالکې خواشيده.

## دې بپتسمه ويرکاوينکي يحيىٰ تعليم

**(متي ۳: ۱-۱۲ او مرقوس ۱: ۱-۸ او يوحنا ۱: ۱۹-۲۸)**

۳ ۱ دې تيبريوس بادشا دې حکومت په پينځلاسام کول کله چې
پانتياس پيلاتوس دې يهودېې والي و او هيروديس دې جليل حاکم و او دې
يغ ورور فيليپوس دې ايتورېې او ترخونيتس دې سيمې حاکم او ليسانيوس
دې ابيلينې حاکم و، ۲ او حناس او قيافا ستر امامون وي، په اغا وخت
کې دې خدائ کلام په داشته کې دې زکريا په ځوئي يحيىٰ بندې نازل
شه. ۳ بيا يحيىٰ دې اردن دې سيند شو او خو ټوله سيمه کې ګرځيده او
تعليم يې ويرکوو چې دې خپلې ګونائينې دې باخشنې په خاطر توبه
وکوژئ او بپتسمه ووخلئ. ۴ لکه ښرنګې چې دې اشعيا پيغمبر په کيتوب
کې ليکلې شوي دي:



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

”یو خوک سیرې وائي په داشته کې

دې تیشتن دې پوره لیار تایوره کئ،

او دې یغ دې پوره لیار سامه کئ

۵ ډاکه و شي اره داره

اوور و شي اره غونډئي او غر

کاژې لیارې و شي سامې

او شي و اوور کانډ او کاپر ځائینه

۶ بیا و ووینې ټول انسانون دې خدائ خلوصین“

۷ یحییٰ اغا ګاڼ شمیر خالکې ته چې دې یغ په لوس بپتسمې
وخاستلې ته روغلې وې، وویل، ”اې دې مانګارې باچیونې! توس چا خبر
کړائي چې دې روتلینکې غضاب نه وتشتئ؟ ۸ بیا داسې کورینه وکئ
چې دا وشائي چې توس دې ګونائینې نه توبه یاستلیې دو. دې خپلې
ځانینې سره داسې مه یایئ چې ابراهیم دې میژ پلور دائي. دې ځکه چې
زه درته یایمه چې خدائ کړائي شي دې دغې تیژې نه هه ابراهیم ته الودینه
پیدو کو. ۹ دا ویس دې ونې بیخینې ته تبر نیول شوائي دائي او اره ونه



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چې شه میوه نه نسي، اغا و واله شي او په یور کې و وچاول شي."

١٠ خالکې دې یغ نه پشتنه وکړه، "بیا میژ څه وکي؟" ١١ یغ ځاوب ویرکه، "څوک چې دوا ختینه لري، بیا یو دا اغا چاته ویرکو چې نه یې لري او په د غ رانګ دې چا سره چې ماړئي وي اغا دا هه دې نورې سره وویشي." ١٢ ټیکس ټوله وینکي هه دې بپتسمې وخاستلې دې پوره روغلل او پشتنه یې ځنې وکړه، "اې ایستوذه! میژ باید څه وکي؟" ١٣ یغ ځاوب ویرکه، "دې ټاکل شوي اندازې نه زیوت ټیکس مه وخلئ." ١٤ په دا رانګ ځنې عسکرې هه پشتنه وکړله، "او میژ څه وکي؟" اغا ته یې وویل، "دې چا نه په زور پائسې مه وخلئ او په ایچا بندې په درویغا تومات مه لګاوئي. په خپله تنخواه بندې قناعت وکئ."

١٥ خالکې انتظار که او په خپل زړینه کې یې دې یحییٰ په حق کې فکر که چې اغا و مسیح وي که نه. ١٦ بیا یحییٰ اغا ټول ته وویل، "زه توس ته په یبه بندې بپتسمه دیرکاومه، خو یو څوک روراون دائي چې اغا په مو نه ډیر زوراور دائي. زه حتي دې دغي لائق هه نه یمه چې دې یغ دې څاپلئ ووشینه خلوص کمه. اغا و توس ته په روح القدس او په یور بندې بپتسمه دیرکاوي. ١٧ یغ خپله درې خشیې په لوس کې نیولې دو چې خپل درماند پوک کو او غانم په خپل ګودام کې سره روټول کو، خو پیړ و په اغا یور کې سویځاوي چې ایخ کله نه مړ کیژي."



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۸ یحییٰ په ډیرې نورې طریقې خالک اخاول او اغا ته یې زرائي اروه.
۱۹ خو یحییٰ هیرودیس والي دې خپلې واندیارې هیرودیا سره دې ناراوو
اړیکې په لارلې او نورې تولې بدې کورینې دې اماله معلومات که. ۲۰ بیا
زندان ته دې یحییٰ په اچاولې سره هیرودیس یو بل بد کور هه وکه.

## عیسیٰ بپتسمه وخلې

(متي ۳: ۱۳-۱۷ او مرقوس ۱: ۹-۱۱)

۲۱ کله چې تولې خالکې ته بپتسمه ویرکړل شوه، بیا عیسیٰ ته هه
بپتسمه ویرکړل شوه. کله چې یغ داعو کړله بیا دې اسمون دروزه خلوصه
شوه ۲۲ او روح القدس په اغا بندې دې کاوتارې په شکل رونازل شه او
دې اسمون نه یو اووز روغائي، "ته دې مو ګرون زیائي یې. زه دې تو نه
خواشول یمه."

## دې عیسیٰ شجره

(متي ۱: ۱-۱۷)

۲۳ عیسیٰ شو او خو دې دیرشې کولې په عمر کې و چې خپل
خیذمات یې شیرې که او خالکې ګمون که چې اغا دې یوسف زیائي
دائي. یوسف دې هالي زیائي و، ۲۴ هالي دې متات زیائي و، متات دې



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

لاوي زيائي و، لاوي دِ ملکي زيائي و، ملکي دِ ينا زيائي و، ينا دِ
يوسف زيائي و، ۲۵ يوسف دِ متاتيا زيائي و، متاتيا دِ عاموس زيائي و،
عاموس دِ ناحوم زيائي و، ناحوم دِ حسلي زيائي و، حسلي دِ نجي
زيائي و، ۲۶ نجي دِ مات زيائي و، مات دِ متاتيا زيائي و، متاتيا دِ
شمعي زيائي و، شمعي دِ يوسک زيائي و، يوسک د يوداه زيائي و، ۲۷
يوداه دِ يوحنا زيائي و، يوحنا دِ ريسا زيائي و، ريسا دِ زروبابل زيائي
و، زروبابل دِ شالتي ييل زيائي و، شالتي ييل دِ نيري زيائي و، ۲۸ نيري
دِ ملکي زيائي و، ملکي دِ آدي زيائي و، آدي دِ قوسام زيائي و،
قوسام دِ ايلمودام زيائي و، ايلمودام دِ عير زيائي و، عير دِ يوشع
زيائي و، ۲۹ يوشع دِ ايلعازر زيائي و، ايلعازر دِ يوريم زيائي و، يوريم
دِ متات زيائي و، متات دِ لاوي زيائي و، ۳۰ لاوي دِ شمعون زيائي
و، شمعون دِ يهودا زيائي و، يهودا دِ يوسف زيائي و، يوسف دِ يونان
زيائي و، يونان دِ ايلياقيم زيائي و، ۳۱ ايلياقيم دِ مليا زيائي و، مليا دِ
مينان زيائي و، مينان دِ متاتا زيائي و، متاتا دِ ناتان زيائي و، ناتان دِ
داود زيائي و، ۳۲ داود دِ يسي زيائي و، يسي دِ عبيد زيائي و، عبيد
دِ بوعز زيائي و، بوعز دِ شلمون زيائي و، شلمون دِ نحشون زيائي و،
۳۳ نحشون دِ عميناداب زيائي و، عميناداب دِ ادمين زيائي و، ادمين
دِ آرام زيائي و، آرام دِ حزرون زيائي و، حزرون دِ فارز زيائي و، فارز



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

دې يهودا زيائي و، ۳۴ يهودا دې يعقوب زيائي و، يعقوب دې اسحاق
زيائي و، اسحاق دې ابراهيم زيائي و، ابراهيم دې تارح زيائي و، تارح دې
ناحور زيائي و، ۳۵ ناحور دې سروج زيائي و، سروج دې رعو زيائي و،
رعو دې فلج زيائي و، فلج دې عابر زيائي و، عابر دې صالح زيائي و، ۳۶
صالح دې قينان زيائي و، قينان دې ارفکشاد زيائي و، ارفکشاد دې سام
زيائي و، سام دې نوح زيائي و، نوح دې لامک زيائي و، ۳۷ لامک دې
متوشالح زيائي و، متوشالح دې خنوخ زيائي و، خنوخ دې يارد زيائي و،
يارد دې مهلليل زيائي و، مهلليل دې قينان زيائي و، ۳۸ قينان دې انوش
زيائي و، انوش دې شيث زيائي و، شيث دې ادم زيائي و، او ادم خدائ
پيدو کړائي و.

## دې عيسیٰ ازميشت

(متي ۴: ۱ - ۱۱ او مرقوس ۱: ۱۲ - ۱۳)

**۴** ۱ عيسیٰ چې دې روح القدس نه ډاک و، دې اردن دې سيند نه
روګوډ شه او اغا روح اغا داشتې ته بوته ۲ او په اغا ځوئي کې څالويشت
وريځي دې شيطون دې اوزميشت لوندې و. په اغا وريځي کې اغا ايخ ونه
خواړل او په اخره کې ډير وژائي شه. ۳ شيطون يغ ته وويل، ”که ته دې
خدائ زيائي يې بيا دا تيژه ته ووايه چې په ماړئي بادله شي.“ ۴ خو



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

عیسیٰ ځواب ویرکه، ”دې خدائ په کلام کې لیکل شوي دي:

انسان ګوشائي په ماړئي بندې ژوندائي نه دائي.“

۵ بیا شیطون اغا یو چګ زي ته بوته او دې سترګې په راپ کې یې ورته دې ټولې دنیو بدشایئ ویر وشولې. ۶ شیطون یغ ته وویل، ”زه و دې دغ ټولې واک او اختیار او دې یغې شان او شوکت توته دیر کمه، دې ځکه چې دا موته روکړل شوي دي او ار چا ته چې زه وغوړمه اغا ته یې ویرکاومه. ۷ که چیرې ته موته سجده وکې بیا و دا ټول دې تو شي.“ ۸ عیسیٰ په ځاوب کې وویل،

”دې خدائ په کلام کې لیکل شوي دي چې خپل تیشتن خدائ ته عبادت که او ګوشائي دې یغ خذمات که.“

۹ بیا شیطون اغا یروشلم ته بوته او دې بیت المقدس په مینوره یې ودروو او ورته ویې ویل، ”که چیرې ته دې خدائ زیائي یې بیا خپل ځون دې دغ ځوئي نه کیز سنړ وایه. ۱۰ دې ځکه چې دې خدائ په کلام کې لیکل شوي دي:

خدائ و خپلې فرشتې ته حکم وکو چې تو وسوتې.

۱۱ په دغ رانګ لیکل شوي دي:



Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

اغا و تو په خپل لوسینه کې پورته کو، ترڅو دې تو پښه په تیږه ونه
لاګیږي.“

۱۲ خو عیسیٰ په ځاوب کې وویل،

”دې خدائ په کلام کې ویل شوي دي چې خپل تیښتن خدائ مه
وزمایئ.“

۱۳ کله چې شیطون ټولې اسوسې اخر ته وراسولې، بیا اغا یې دې یو څه
وخت دې پوره پریاش.

## په جلیل کې دې عیسیٰ دې کور شیري

(متي ۴: ۱۲-۱۷ او مرقوس ۱: ۱۴-۱۵)

۱۴ عیسیٰ دې روح القدس په قدرات سره جلیل ته روګوډ شه. دې یغ په
حق کې په ټولې سیمې کې اوزه ږانګه شوله. ۱۵ اغا دې یهودیونې په
عبادتخونې کې تعلیم ویرکوه او ټولې خالکې دې یغ ستوینه کړله.

## دې ناصرې خالک عیسیٰ نه مني

(متي ۱۳: ۵۳-۵۸ او مرقوس ۶: ۱-۶)

۱۶ بیا عیسیٰ دې ناصرت شار ته، یعني اغا ځوئي ته چې اغا په کې



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ستر شوائي و روغائي، او لکه ځرنګې چې دې یغ عادات و بیا دې سبت
په وریځ عبادتخانې ته لوړ شه. اغا وولته ودریده چې دې خدائ کلام
ویائي ﴿۱۷﴾ او دې اشعیا پیغمبر طومار ورته ویرکړل شه. اغا یې خلوص که او
اغا ځوئي یې پیدو که چې په کې لیکل شوي وي:

﴿۱۸﴾ "دې تیشتن روح په مو بندې نازل شوائي دائي

دې ځکه چې زۀ یې غوره کړائي یمه

ترخو غریبونې ته زرائي ورساوم

یغ زه رولږلۍ یمه چې اعلان وکمه

چې باندیون و ازود شي

ړونده و سترګاور شي او مظلومون و ازود شي

﴿۱۹﴾ او دا اعلان کمه چې دې تیشتن دې مهربونۍ وخت روراسېدلۍ
دائي."

﴿۲۰﴾ عیسیٰ طومار باند که او اغا یې په ښتې دې عبادتخونې مرستیال ته
ویرکه او کشینوست. ټولې خالکې په عبادتخانه کې دې یغ خو ته سترګې
نیولیې وې. ﴿۲۱﴾ عیسیٰ یغې ته وویل، "نن چې توسې دې خدائ دې کلام



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

دا ليکنه ورويدله، اغا رشتيا شوه.“ ۲۲ يغې ټولې په اغا بندې شه وويل او
په دا حيرون شول چې داسې دې فاضل خبرې دې يغ دې خولې نه رو
وواتلې او ويل يې، ”ايا دا دې يوسف زيائي نه دائي؟“ ۲۳ عيسیٰ يغي ته
وويل، ”دې شک نه وره چې توس و موته دا متال يايئ: ’اې طبيبه! خپل
ځون روغ که.‘ دا و هه روته وياييئ چې کيم کورينه چې تو دې کپرناحوم
په شار کې کړې دې او ميژ دې يغ په حق کې اوريدلې، اغا کورينه په
خپل شار کې هه وکه.“ ۲۴ عيسیٰ زيوته کړه، ”په يقين سره زه توس ته دا
يايمه چې ايخ پيغمبر په خپل وطن کې چا نه دائي مانلائي. ۲۵ دا رشتيا
دې چې دې الياس پيغمبر په زمونه کې په اسرائيلې کې ډيرې کونډې وې.
په اغا وخت کې درې نيم کوله وارينه نه وې شوې او په ټول وطن کې
ساخته قحطي روغليې وه. ۲۶ خو الياس په اغا کونډې کې يوې ته هه دې
مراستې دې پوره ونه لاژل شه، خو ګوشائي اغي کونډې ته ولاژل شه چې
دې صيدون دې زرفت په سيمه کې وه. ۲۷ په دغ رانګ دې اليشع نبي په
زمونه کې په اسرائيلې کې ډير خالک وې چې دې جذوم په بيموري وخته
وې، خو دې يغي نه يو هه پوک او روغ نه شه، ګوشائي نعمان چې دې
شام و، روغ شه.“ ۲۸ کله چې په عبادتخونه کې خالکې دا خبرې
ورويدلې بيا ډير په قهر شول. ۲۹ اغا روچګ شول او عيسیٰ يې دې شار نه
ويوست او دې يغي غونډئي سار ته يې وخيژوو چې د شار په جوړ شوائي و



Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

ترخو لونديږ يې سنړ وائي. ۳۰ خو اغا دې يغې دې ميانځ نه تير شه او لوړ
شه.

## عيسیٰ پيريونې نيولې ساړې ته شفا ويركاوې

**(مرقوس ۱: ۲۱-۲۸)**

۳۱ بيا عيسیٰ كپرناحوم ته چې دې جليل يو شار و لوړ شه او دې سبت
په وريځ يې خالک ته تعليم ويركوه. ۳۲ خالک دې يغ په تعليم حيرون
شول، دې ځكه چې په پيره اختيار سره يې خبرې كړلې. ۳۳ په عبادتخونه
كې يو ساړائې و چې پيريونې نيولائې و او په چگ اووز يې سيرې ووالې:
۳۴ "اې عيسیٰ ناصرې! دې ميژ سره څه كور لرې؟ ته روغلئ يې چې ميژ
تباه كې؟ زه دې پيژانمه چې ته څوک يې، ته دې خدائ سپيڅلئ يې." ۳۵
عيسیٰ پيرې ته حكم وكه، "غلائې شه او دې دغ ساړې نه رو ووځه."
پيرې اغا ساړائې دې يغې په مخكې په منځكه رو وويشت او بې دې دغې
چې كيم زيون ورته وراساوې ځنې ووته. ۳۶ ټول خالک حيرون شول او يو
بل ته يې ووېل، "دا څه خبره دو چې دا ساړائې په پيره اختيار او قدرات
سره پيريون ته امر كو او اغا ووځي؟" ۳۷ او په دغ رانگ دا خبره په ټوله
سيمه كې ړانگه شوه.



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## عیسیٰ ډېر خالک ته شفا ورکاوي

(متي ۸: ۱۴ - ۱۷ او مرقوس ۱: ۲۹ - ۳۴)

۳۸ عیسیٰ دې عبادتخونې نه رو ووته او دې شمعون کیر ته لوړ شه. دې شمعون خوشیې ساختې تبې نیولې وه او یغې دې عیسیٰ نه وغوشتل چې دې یغې سره مراسته وکو. ۳۹ عیسیٰ لوړ شه او دې یغې په خو کې ودریده او تبې ته یې امر وکه چې اغا پریږدي. تبې اغا شځه پریشوله، بیا شځه په مخ چګکا شوله او دې یغې خدمات یې شیري که.

۴۰ دې لمر پریواتې په وخت کې خالکې خپل بیمورون چې په رانګ رانګ بیمورئې وخته وې عیسیٰ ته رواستل. یغ په ار یو بندې خپل لوس کشیاش او ټول یې روغ کړل. ۴۱ دې ډېرې خالکې نه پیریون وواتل او سیرې یې والې، "ته دې خدائ زیائې یې." خو عیسیٰ پیریونې ته حکم وکه او اغا یې پرې نه شول چې خبرې وکو، دې ځکه چې اغا پئیدل چې اغا مسیح دائې.

## عیسیٰ په عبادتخانه کې تعلیم کو

(مرقوس ۱: ۳۵ - ۳۹)

۴۲ کله چې ګائیز شه بیا عیسیٰ دې شار نه راون شه او یو ګوشې ځوئې



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ته لوړ شه. خالکي اغا غوشت او چې کله يې پيدو که، بيا کوشش يې وکه
چې دې يغ دې تللي مخه ونسي. ۴۳ خو يغ ورته وويل، ”زه بايد نور
شارينه ته هه دې خدائ دې بدشايئ زرائي وراساومه، دې ځکه چې دې
دغ کور دې پوره رولژل شوائي يمه.“ ۴۴ بيا اغا دې يهوديې په ټولي
عبادتخاني کې تعليم ويرکوه.

## عيسیٰ خپل اوالیني شاګردون ټاکي

**(متي ۴: ۱۸ - ۲۲ او مرقوس ۱: ۱۶ - ۲۰)**

**۵** ۱ يوه وريځ عيسیٰ دې جنيسارت دې داريوب په غوړه ويلوړ و او
خالکې يو بل سره پورې والل چې ځونينه اغا ته وراساوي ترخو دې خدائ
کلام ووروي. ۲ يغ وليدل چې دې داريوب په غوړه دوې کشتئ ويلوړې
وې خو کاب نيوينکي ځني کيز شوي وي او جالينه يې وينځل. ۳ عيسیٰ
يوې کشتئ ته چې دې شمعون وه وير وخوت او دې يغ نه يې وغوشتل،
”چې کشتئ دې غوړې نه لژ لرې بوځي.“ عيسیٰ په کشتئ کې نوست و
او دې يغ ځوئي نه يې خالک ته تعليم ويرکوه. ۴ کله چې يغ خبرې اخير
ته وراسولې بيا شمعون ته يې وويل، ”کشتئ دې يبې ميانځ ته يو ژاور
ځوئي ته بوځه او توس خپل جالينه ييه ته سنړ وايئ چې کابون ونسئ.“ ۵
شمعون ورته په ځاوب کې وويل، ”ايستوذه ميژ ټوله شپه خوري وکړه او ايخ



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

مم ونه نیول خو که چیرې ته یائې بیا زه و جال ویر وچاومه." ۶ یغې
داسې وکړل او دامره زیوت کابون یې ونیول چې نژدې وه جالینه بژا شي. ۷
بیا یغې خپلې ملګریې ته چې په بله کشتئ کې وي اشاره وکړه. چې روشي
او مراسته ورسره وکو. اغا روغلل او دوې سارې کشتئ یې دې کابونې نه
داسې ډاکې کړې چې نژدې وې ډیبې شي. ۸ کله چې شمعون پطروس
ولیدل چې څه وشول اغا دې عیسیٰ پشې ته ولویده او ویې ویل، "اې پوکه
ایستوذه! دې مو نه لرې شه دې ځکه چې زه یو ګونانګور انسان یمه." ۹
پطروس او ټول ملګرې یې دې دامره زیوتې کابونې په نیولې حیرون پوتې
شول. ۱۰ په دغ رانګ دې شمعون شریکون یعقوب او یوحنا چې دې
زبدي زامن وي هه حیرون شول عیسیٰ شمعون ته وویل، "مه ډاریژه په دا
نه دې ورستې و ته کابون نه بلکې انسانون رونسې." ۱۱ کله چې یغې
خپلې کشتئ وچې ته رواستلې بیا ار څه یې پریشول او په عیسیٰ پسې راون
شول.

## عیسیٰ یوه جذومي ته شفا ویرکاوي

### (متي ۸: ۱ - ۴ او مرقوس ۱: ۴۰ - ۴۵)

۱۲ یورې عیسیٰ په یوه شار کې و، وولته یو ساړائې و چې دې جذوم په
بیمورئې وخته و. کله چې یغ سارې عیسیٰ ولید، بیا په پشې کې یې



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ولویده او مینات یې ورته وکه، "اې شوغلیه! که چیرې ته وغوړې بیا کړائي
شې چې مو پوک او روغ کې." ﴿۱۳﴾ عیسیٰ خپل لوس ویر ویږد که او په یغ
بندې یې کښیاش او ویې ویل، "اې، زه غوړمه پوک او روغ شه." بیا اغا
بیموري په مخ ځني لرې شوه. ﴿۱۴﴾ عیسیٰ یغ ته امر وکه، "دې د غ په حق
کې ایچا ته څه ونه یائې، خو لوړ شه او امام ته خپل ځون ویر وشایه او
کیمه قرباني چې موسیٰ یې حکم کړائي دائي ویر مخته که دې دغې دې
پوره چې خالک ته ثابته شي چې ته پوک او روغ شوائي یې." ﴿۱۵﴾ خو دې
عیسیٰ په حق کې خبر نور هه زیوت ړانګ شه او ډیر خالک روغلل چې
دې یغ خبرې ووروي او دې خپلي بیمورئي نه شفا ومیمي. ﴿۱۶﴾ خو اغا و
ګوشي ځایون ته تۀ چې وولته داعو وکو.

## عیسیٰ یوه شیال ته شفا ویرکاوي

### (متي ۹: ۱-۸ او مرقوس ۲: ۱-۱۲)

﴿۱۷﴾ یوه وریځ کله چې عیسیٰ تعلیم ویرکوه ځني فریسیون او دې شریعت
عالمون چې دې جلیل او دې یهودیې دې ار کلي او یروشلم نه روغلي
وي، وولته نوست وي او عیسیٰ دې خدائ په قدرات سره بیمورون روغاول.
﴿۱۸﴾ په دا وخت کې څو کاسوني یو شیال ساړائي په کاټ کې رواړ. یغي
اخه کړله چې اغا دې ننه کیر ته بوځي او دې عیسیٰ په مخکې یې



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کشیږدي. ۱۹ خو دې ډېرې ګانې ګېنې په واجه يې ليار نه کړه مينده ترڅو
اغا دې ننه بوځي بيا اغا شيال ساړائي يې پوس چات ته پورته که، دې
پاخې خشتې په ميانځ کې يې يو سروائي جوړ که او اغا يې په بيشتاره کې
لوندې روکيز که او دې ګانې ګېنې په ميانځ کې يې دې عيسیٰ په مخکې
کشياش. ۲۰ کله چې عيسیٰ دې يغې ايمون وليده بيا اغا ساړي ته يې
وويل، ”وروره، دې تو ګونائينه باخش شول.“ ۲۱ اغا وخت دې شريعت
عالمونې او فريسيونې يو دې بل سره باحث شيري که، ”دا ساړائي څوک
دائي چې کفر يائي؟ ايا بې دې خدايه څوک کړائي شي چې ګونائينه
وباخشي؟“ ۲۲ عيسیٰ دې يغې په خيالينه پوئي شه او ورته ويې ويل،
”توس ويلې په خپل زړينه کې داسې فکرينه کئ؟ ۲۳ ايا دا خبره اسونه دو
چې وويل شي چې دې تو ګونائينه باخش شول يا وويل شي چې چګ شه
او وګرځه؟ ۲۴ خو زه و توس ته ثابته کمه چې دې انسان زيائي دې
منځکې په مخ دا اختيار لري چې ګونائينه وباخشي.“ بيا اغا شيال ساړي
ته يې وويل، ”زه توته يايمه چګ شه، بيشتاره دې ووخله او خپل کير ته
لوړ شه.“ ۲۵ بيا په مخ اغا ساړائي دې ټولې خالکې په مخکې چګ شه،
خپله بيشتاره يې چې په پروت و ووخستله او په داسې حال کې چې دې
خدائ ثنا يې ويله، خپل کير ته راون شه. ۲۶ اغا ټول ډېر حيرون شول او
ډور وخاستل، او دې خدائ صفاتينه يې وويل، او ويل يې، ”ميژ نن څه



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

عجيبه چارې وليدې."

## عيسیٰ لاوي خپل شاګرد ټاکي

(متي ۹: ۹-۱۳ او مرقوس ۲: ۱۳-۱۷)

۲۷ په اغا نه دې ورستې عيسیٰ دې ورچانې ووته او دې لاوي په نوم يو
ټيکس ټولاوينکائي يې وليده چې دې ټيکس روټولاولې په ځوئي کې
نوست و عيسیٰ يغ ته وويل، "په مو پسې روخه." ۲۸ لاوي روچګ شه، ار
څه يې پريشول او په يغ پسې راون شه. ۲۹ بيا لاوي په خپل کير کې دې
عيسیٰ دې پوره يوه ستره ولماستيه جوړه کړه او په ولمونه کې زيوت شمير
ټيکس ټولاوينکي او نور خالک هه وي. ۳۰ خو ځنې فريسيونې او دې
شريعت عالمونې چې دې يغې ډالې نه وي دې عيسیٰ په شاګردونې
اعتراض وکه او پشتنه يې وکړه، "توسې ويلې دې ټيکس ټولاوينکي او نور
ګوناګورونې سره يو ځوئي خورئي او تشئ؟" ۳۱ عيسیٰ ورته په ځاوب
کې وويل، "روغ خالک طبيب ته ضرورات نه لري بلکې بيمورون ورته
ضرورات لري. ۳۲ زه دې پرهيزګورونې دې پوره نه يمه روغلئ، بلکې دې
ګوناګورونې دې پوره ترخو اغا توبه وبوسي."

## دې روژې په حق کې پشتنه



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

(متي ۹: ۱۴-۱۷ او مرقوس ۲: ۱۸-۲۲)

۳۳ ځني خالکې عيسیٰ ته ووېل، "دې يحيیٰ شاګردون زيوت وخت
رېژه نسي او داعوګوني کو او دې فريسيوني شاګردون هه داسې کو، خو
دې تو شاګردون خوري او تشي." ۳۴ عيسیٰ ځاوب ويرکه، "ايا توسې
کړائي شئ چې دې زيم ملګري دې ورو په ولماستيه کې په داسې حال
کې چې زيم ورسره وي مجبور کئ چې رېژه ونسي؟ دې شک نه وره چې
نه ۳۵ خو داس وخت و روشي چې زيم و دې دئ نه بوتلل شي او په اغا
وخت و اغا رېژه نسي."

۳۶ په دغ رانګ عيسیٰ اغا ته دا مثال رواړ، "ايخوک دې نويې جومې
نه يوه ټوټه نه شيکاوي چې په زاړې جومې بندې يې پيواند کو که داس وکو
بيا هه و اغا نويې جومې وشيکيژي او هه و دې نويې جومې ټوټه دې زاړې
سره جوړه رونه شي. ۳۷ نه و څوک تازه شاروپ په زاړه غړکه کې وچاوي،
دې ځکه چې تازه شاروپ و اغا غړکه وشيکاوي شاروپ و توئي شي او
غړکه و دې ميانځه لوړه شي. ۳۸ خو تازه شاروپ بايد په نويې غړکه کې
وچاول شي. ۳۹ ايخوک نه غوړي چې دې زاړې شاروپې دې تشلې ورستې
تازه شاروپ وتشي، دې ځکه داسې يائي چې زوړه شاروپ ډير شه وي."

## دې سبت په حق کې پشتنه



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

(متي ۱۲: ۱-۸ او مرقوس ۲: ۲۳-۲۸)

۶ ۱ دې سبت په يوه ورځ عيسیٰ د خپلو شاګردونو سره د
غنمو په پټيون تيريده. شاګردونو يې د غنمو وږي روشيکاول او په
لوسينه کې يې مږل او خوړل يې. ۲ څنې فريسيونې پښتنه وکړه، "توس
ويلې داسې کور کئ چې د سبت په ورځ ناراوو دائي؟" ۳ عيسیٰ اغا
ته په ځاوب کې وويل، "ايا توسې دا نه دي ويلي کله چې داود او ملګرې
يې وږي شوي وي، بيا يې څه وکړل؟ ۴ اغا د خدائ کير ته ننواته، پوکه
ماړئي روخاستله او ويې خواړه او خپل ملګريې ته يې هه ويرکړه، که څه هه
د يغې ماړئي خواړل د امامونې نه وره بل چاته راوو نه وه." ۵ بيا
عيسیٰ وويل، "د انسان زيائي د سبت د ورځې خاوند هه دائي."

## عيسیٰ د سبت په ورځ بيمورونې ته شفا ويرکاوي

(متي ۱۲: ۹-۱۴ او مرقوس ۳: ۱-۶)

۶ د بل سبت په ورځ عيسیٰ عبادتخانې ته ننواته او تعليم يې
ويرکوه. وولته يو ساړائي و چې شائي لوس يې وچ شوائي و. ۷ د شريعت
څنې عالمونې او فريسيونې په څير سره يغ ته کاتل چې ووينې ايا عيسیٰ و
د سبت په ورځ چا ته شفا ويرکاوي که نه، ترڅو په اغا بندي د
تومات لګاولې د پوره يو داليل پيدو کو. ۸ عيسیٰ د يغې په فکرينه



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

پوئي شه او اغا ساړي ته چې لوس يې وچ شوائي و وويل، "روچګيژه او دې
ټولې په مخ کې وداريژه." بيا اغا روچګ شه او وولته ودريده. ⁩٩⁨ بيا عيسیٰ
اغا ته وويل، "زه دې توس نه پشتنه کمه: ايا دې سبت په وريځ نيکي
کړل راوو دي که بدي کړل؟ دي يو چا ژوند ژغورل، که دې ميانځه
وړل؟" ⁩١٠⁨ عيسیٰ ګړد وړد يغې ټولې ته وکاتل او بيا يې يغ ساړي ته وويل،
"خپل لوس دې وغزاوه." يغ خپل لوس وغزووه او لوس يې روغ شه. ⁩١١⁨ خو
دې شريعت عالمون او فريسيون ډير په قهر شول او يوه بل ته يې وويل چې
دې عيسیٰ سره څه وکي.

## عيسیٰ دې خپلې شاګردونې نه دولاس رسولون ټاکي

**(متي ١٠: ١-۴ او مرقوس ٣: ١٣-١٩)**

⁩١٢⁨ په اغا وريځې کې عيسیٰ دې داعو دې پوره غره ته لوړ شه او ټوله
شپه يې خدائ ته په داعو کړلې تيره کړه. ⁩١٣⁨ کله چې ګائيز شه، بيا خپل
شاګردون يې روغوشتل او دې يغې ميانځ نه يې دولاس کاسون غوره کړل
او اغا يې دې رسولونې په نوم يود کړل: ⁩١۴⁨ شمعون چې عيسیٰ په پطروس
نوم کشياش او دې يغ ورور اندرياس، يعقوب، يوحنا، فيليپوس او بارتولما،
⁩١۵⁨ متي، توما، يعقوب دې حلفي زيائي او شمعون چې په سرتيري مشهور
و ⁩١۶⁨ او يهودا دې يعقوب زيائي او يهودا اسخريوتي چې ورستې خاين شه.



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## عیسیٰ خالک ته تعلیم او شفا ورکاوي

(متي ۴: ۲۳ - ۲۵)

۱۷ عیسیٰ دې خپلې رسولونې سره دې غره نه روکیز شه او په یو اوور
ځوئي کې ودریده. په اغا ځوئي کې دې یغ دې لیارتلینکیې یوه ستره ډاله
او دې ټولې یهودیې، یروشلم او دې صور او صیدون دې ساحلي شارینې
نه ګاڼ شمیر خالک موجود وي. ۱۸ دا خالک دې دغې دې پوره روغلي
وي چې دې یغ خبرې وورو‌ي او دې خپلې بیمورئي نه روغ شي. په د غ
رانګ اغا خالک چې پیریونې نیولي وي هه روغلي وي او روغ شول. ۱۹
ټولې خالکې کوشش که چې عیسیٰ ته لوس ویري، دې ځکه چې دې یغ
نه یو قدرات رووته او ټول و یې روغاول.

## خواشولي او غم

(متي ۵: ۱ - ۱۲)

۲۰ بیا عیسیٰ خپلې شاګردونې ته مخ رووړو او ویې ویل:

"بختاور یئ توسې چې ویس غریبون یئ،

دې ځکه چې دې خدائ بدشائي دې توسې دو.



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۲۱ بختاور يئ توسې چې ويس وږي يئ، دې ځکه چې توس و موړه
شئ.

بختاور يئ چې ويس ژوړئي، دې ځکه چې توس و وخوندئي.

۲۲ بختاور يئ توسې چې خالک درنه دې انسان دې زي په خاطر
کرکيې کو او خپل ميانځ کې مم نه پريږدي، سپکاوائي درته کو او توس
بدنومه وي. ۲۳ بيا په اغا وخت کې خواشي وکئ او دې خواشولئ ټوپينه
ووايئ، دې ځکه چې په جنت کې و ستر اجر ولرئي. دې يغې نيکونې دې
پيغمبرونې سره هه داسې چالند کړائي و.

۲۴ خو افسوس دا وي دې توسې مالدارې په حال!

دې ځکه چې توس خپل دې سوکالئ وخت تير کړائي دائي.

۲۵ افسوس دا وي دې توسې په حال چې ويس موړه يئ،

دې ځکه چې توس و وږي شئ

افسوس دا وي په توسې چې ويس خوندئي،

دې ځکه چې دې توسې خاندو و په وير او ژاړو بادله شي



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۲۶ افسوس دا وي دې توسې په حال کله چې ټول دې توسې صفات
کو.

دې ځکه چې دې یغې نیکینه هه دې جعلي پیغمبرونې
صفات که.

## دې دیشمنونې سره مینه

### (متې ۵: ۳۸-۴۸، ۷: ۱۲)

۲۷ خو زه توس ته چې دې مو خبرې وروئې، یایمه چې دې خپلې
دیشمنونې سره مینه کئ، ښوک چې دې توس نه کرکیې کو دې یغې سره
شه کئ. ۲۸ دې یغې خالکې دې پوره چې په توس لعنت یائې، براکات
وغوړئې او دې یغې خالکې دې پوره چې دې توسې سره بد چالند کو،
داعو وکئ. ۲۹ که چیرې ښوک توته په یوه مخ څپړ دیر کو بیا خپل بل مخ
هه ویر وړاوه. که ښوک درخه چوغه وخلې بیا پریژده چې دې تو خت هه
وخلې. ۳۰ که ښوک درخه کیم شائې وغوړې بیا ورته ویر یې که او که
چیرې ښوک دې تو نه کیم شائې چې اغا دې تو وي وخلې، بیا یې په
ښتې مه ځنې غوړه. ۳۱ بیا دې نورې سره داسې چالند کاوئې لکه ښرنګې
چې توسې یې دې ځون دې پوره دې یغې نه غوړئې.



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۳۲ که چیرې ګوشي دې یغې خالکې سره مینه کئ چې دې توسې سره مینه کو، بیا په دا کې و دې توسې دې پوره څه اجر وي؟ دې څکه ګونانګورون هه دې یغ چا سره مینه کو څوک چې دې یغې سره مینه کو.

۳۳ که چیرې توسې ګوشي دې یغې خالکې سره نیکي کئ چې دې توسې سره نیکي کو، بیا په دا کې و دې توسې دې پوره څه اجر وي؟ دې څکه چې ګونانګورون هه داسې کو. ۳۴ که چیرې اغا خالک ته پور ویرکئ چې په څټ دې وخاستلې تامه یې لرئي بیا په دا کې و دې توس دې پوره څه اجر وي؟ دې څکه چې ګونانګورون هه نورې ګونانګورونې ته پور ویرکاوي چې په څټ یې څنې پیره وخلي. ۳۵ خو توس دې خپلې دیشمنونې سره مینه کئ او دې یغې سره نیکي کئ. پور ویرکئ او په څټ دې وخاستلې تامه څنې مه کئ. بیا دا و دې توسې دې پوره ستر اجر وي او توس و دې خدائ تعالی الودینه وائي، دې څکه چې اغا په ناشکره او بدکوره خالک هه مهربونه دائي. ۳۶ لکه څرنګې چې دې توسې اسمونې پلور زړه سواندائي دائي، بیا توس هه زړه سواندي پنديژئي.

## دې نورې په حق کې پئصاله کړل

**(متي ۷: ۱ - ۵)**

۳۷ په نورې بندې تومات مه لګاوئ، بیا په توس و هه تومات ونه لګاول



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

شي. نور خالک مه ګراماوئي، بيا خدائ و توس نه ګراماوي. نور خالک وباخشئ، بيا خدائ و توس وباخشي. ۳۸ نور ته څه شائي ويرکئ، بيا توس ته و هه دير کړل شي. توس ته و په ډاکې پئموني، په زور څوئي شوې او تر خولي پره ډاکه دې توس په لمن کي وچاول شي. دې څکه په اره پيمونه چې توس يې نور ته ويرکاوئي په اغا پيمونه و توس ته دير کړل کيژي.“

۳۹ بيا عيسیٰ اغا ته دا مثال ووېه، ”ايا يو ړېند بل ړونده ته ليار وشولئ شي؟ ايا دواسره و په کانده کي ونه لويژي؟ ۴۰ شاګرد په خپل ايستوذ نه ستر نه دائي، خو کله چې يو شاګرد خپلې زده کړې پيره کو بيا دې خپل ايستوذ په رانګ و شي. ۴۱ ته ويلې دې خپل ورور په سترګه کي خلائي ليدلئ شې خو په خپله سترګه کي غوټ لارګائي ليدلئ نه شې؟ ۴۲ څرنګي کړائي شې خپل ورور ته ويايې چې اې وروره، اجازات روکه دې تو دې سترګې نه خلائي روبوسمه، خو په خپله سترګه کي غوټ لارګائي ليدلئ نه شې؟ اې منافقه! ته بايد اول دې خپلې سترګې نه لارګائي وبوسې، بيا کړائي شې چې په شکاره رانګ ووينې چې څرنګې دې خپل ورور دې سترګې نه خلائي وبوسې.

## ونه دې خپلې ميوې نه پيژاندل کيژي

(متي ۷: ۱۷ - ۲۰، ۱۲: ۳۳ - ۳۵)



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۴۳ شه ونه خاروپه میوه نه نسي او نه و خاروپه ونه شه میوه ونسي. ۴۴
اره ونه دې خپلې میوې نه پیژاندل کیژي. دې اغزي دې بیټې نه توغه او
دې ځنګلي بیټي نه انګیر نه شئ روټولاولئ. ۴۵ شه ساړائي دې خپل زړه
دې شي خزونې نه شه شایون رو وبوسي او بد ساړائي دې خپل زړه دې
بدې خزونې نه بد شایون رو وبوسي، دې ځکه کیمې خبرې چې په زړه
کې وي اغا په خوله روشي.

## دوه قسمه بنیادینه

**(متي ۷: ۲۴ - ۲۷)**

۴۶ توس ویلې موته ایستوذه، ایستوذه یایئ، خو څه چې درته یایمه اغا
نه کئ؟ ۴۷ ار ښوک چې موته روشي او دې مو خبرې ته غوژ ونسي او په
اغا بندې عمل وکو، بیا زه و توس ته وشایمه چې اغا دې چا په رانګ
(متي ۱۰: ۳۲-۳۳، ۱۲: ۳۲، ۱۰: ۱۹-۲۰)

﴿۸﴾ عیسیٰ زیوته کړه، ”زه توس ته یایمه ار څوک چې دې خالکې په مخکې دا اقرار وکو چې اغا دې مو دې لیارتلینکیې نه دائي، بیا دې انسان زیائي و هه دې خدائ دې فرشتې په مخکې اقرار وکو چې اغا دې مو دې لیارتلینکیې نه دائي. ﴿۹﴾ خو ار څوک چې دې خالکې په مخکې دې مو نه انکار وکو بیا دې انسان زیائي و هه دې خدائ دې فرشتې په مخکې دې یغ نه انکار وکو. ﴿۱۰﴾ ارځوک چې دې انسان دې زې په خلاف کیمه خبره وکو بیا اغا و باخش شي، خو که څوک دې روح القدس په خلاف



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کفر ویایي اغا و نه شي باخش. ۱۱ کله چې اغا توس دې محکمې دې
پوره عبادتخانې لیا والیونې لیا واکمنونې ته روالي، بیا په دا حق کې
اندیشنه مه کئ چې دې خپل ځون نه و څرنګې دفاع کئ لیا څه و یایئ.
۱۲ دې ځکه چې په اغا ساعت و روح القدس توس ته وشائي چې څه
باید ویایئ."

## دې یوه کم عقل مالدار مثال

۱۳ دې ګاڼې ګینې دې میانځ نه یوه ساړې عیسیٰ ته وویل، "ایستوذه!
دې مو ورور ته ویایه چې دې میژ دې پلور میروث دې مو سره وویشي."
۱۴ عیسیٰ یغ ته ځاوب ویرکه، "اې ورورہ! زه چا دې توسې په میانځ کې
قاضې ټاکلئ یمه چې دې توسې میروث وویشمه؟" ۱۵ بیا یې خالک ته
وویل، "پام کئ او خپل ځونینه دې ار رانګ حرص نه وسوتئ، دې ځکه
چې دې انسان ژوند په دا نه جوړیژي چې اغا دا ډیره مالداري ولري."

۱۶ بیا عیسیٰ اغا ته دا مثال رواړ، "یو مالدار ساړائي و چې منځکه یې
لارله او یغې منځکې شه حاصل ویرکه. ۱۷ یغ دې خپل ځون سره فکر وکه
او ویې ویل: 'څه وکمه؟ دې مو سره دامره ځوئي نشته چې خپلې دې غلې
دونې په کې وسوتمه.' ۱۸ بیا یغ وویل: 'ویس پوئي شومه چې څه وکمه. زه
و خپل ګودامینه ړانګ کمه او دې یغ نه و ستر ستر ګودامینه جوړ کمه او



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خپلې دې غلې دونې او نور شايون و په کې ذخيره کمه. ۞١٩ بيا و خپل
ځون ته ويايمه: اې بختاوره انسانه! تو ډېر زيوت شه شه شايون روټول کړې
دي چې دې ډېرې کولينې دې پوره دې باس دي. ويس په ارام ژوند تيروه،
خوره، تشه او خواشول ګرځه.' ۞٢٠ خو خدائ اغا ته وويل: 'اې کم عقله!
هه دا نن شپه و دې سياه ووځي، بيا دا ټول شايون چې تو دې خپل ځون
دې پوره سوتلې دي اغا و دې چا شي؟' ۞٢١ داسې و دې يغې خالکې سره
کيژي چې دې ځونينې دې پوره مالدارئي روټوله وي خو دې خدائ په نَظير
کې و غريب وي."

## په خدائ توکل کړل

(متي ۶: ۲۵ - ۳۴)

۞٢٢ بيا عيسیٰ خپل شاګردونې ته وويل، "بيا توس ته يايمه چې دې خپل
ژوند په حق کې دا انديشنه مه کئ چې څه شائي و خورئي او هه دې
خپل سيرات په خاطر چې څه و وغوندئي. ۞٢٣ دې ځکه چې ژوند دې
خواروک نه او سيرات دې جومې نه ډېر مهم دائي. ۞٢٤ کارغون ته وکسئ،
اغا نه څه کري او نه څه ريبي، نه دې سوتلې دې پوره ځايون لري او نه
ګودامينه، خو خدائ ورته روزي رساوي. توس په مرغون نه ډېر زيوت
ارزشت لرئي. ۞٢٥ ايا په توس کې څوک کړائي شي چې په انديشنې سره



Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

دې خپل عمر يو ساعت هم زيوت کو؟ ۲۶ بيا که چيرې توسې يو داسې
واړيکائي کور نه شئ کړائي، بيا ويلې دې نورې شايونې په حق کې
انديشنه کئ؟ ۲۷ ځنګلې ګولينه ته وکسئ چې ښرنګې ستريږي. اغا نه
چار کو او نه دې ځونيني دې پوره جومې جوړه وي. خو توس ته يايمه چې
حتي سليمان بادشا هه دې خپل ټول شان او شوکت سره دې دغې ګولينې
په رانګ کوشلائي او سينګار شوائي نه و. ۲۸ که چيرې خدائ دې صحرا
ووشه ته چې نن دولته دائي او سابو ته و په تانور کې سويځل کيږي داسې
کوشلا ويرکاوي، بيا اغا و توس ته په اغا نه کوشليې جومې نه کو دير؟ دې
توسې ايمون ويلې دامره کمزورائي دائي! ۲۹ بيا انديشنه مه کئ چې توس
و ښه خورئي او ښه و تشئ. ۳۰ دې ځکه چې دې دغې دنيو خالک دې
دغې شايونې په حق کې انديشنه کو. خو دې توسې اسموني پلور پئيږي
چې توس دا شايون ته اجات لرئي. ۳۱ دې دغې په ځوئي توس دې خدائ
دې بدشائي په غوشتنه کې شئ بيا اغا و توس ته دا شايون هه ديرکو.“

## اسموني مالداري

### (متي ۶: ۱۹-۲۱)

۳۲ ”اې دې شاګردونې واړيکيې ډالې! مه ډاريږئي، دې ځکه چې دې
توسې دې اسموني پلور دا خواشه دو چې توس ته بدشائي ديرکو. ۳۳ ار ښه



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چې لرئي اغا خارج کئ او پائسې يې غريبون ته ويرکئ. دې خپلې ځونينې دې پوره دې پائسې داسې کاڅوړې تايورې کئ چې ايخکله نه زاړيژي يعني په اسمون کې داسې خزونې جوړې کئ چې ايخکله نه کميژي، دې ځکه چې يو غال هه ورته نژدې کيدائي نه شي او نه يې چمجي خواړئي شي. ۳۴ دې ځکه په ار ځوئي کې چې دې توسې خزونې وي بيا دې توسې زړينه و هه وولته وي.

## بئيدور نيکارون

۳۵ خپلې ملې وتاړئي، دې کور دې پوره تايور پنډيژئي او څروغينه مم بال سوتئ. ۳۶ دې يغې نيکارونې په رانګ پنډيژئي چې خپل مشر ته دې ورو دې ولماستيې نه دې په ښت روتاګ په انتظار وي. کله چې اغا روښي او دروزه وټکاوي، بيا په مخ يې ورته خلوصه کو. ۳۷ بختاور دې اغا نيکارون چې کله يې مشر روښي او وويني چې اغا بئيدور نوست دې. په يقين سره زه توس ته دا يايمه چې مشر و په خپله ملا وتاړي، اغا و دسترخوان ته کشيناوي او رو و شي او دې يغې خيذمات و وکو. ۳۸ بختاور دې اغا نيکارون چې کله يې مشر په نيمه شپه ليا ګائيز واختې روښي او وويني چې اغا بئيدور نوست دې. ۳۹ خو توس بايد په دا پوئي شئ چې که چيرې دې کير خاوند پئيدائي چې غال و څه وخت روځي، بيا نه و يې پريشولائي چې دې يغ کير ته ويرنناوځي. ۴۰ بيا توس هه بايد تايور



Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

پنډېژئي، دې ځکه چې دې انسان زيائي و په داسې وخت کې روشي
چې توس و يې دې روتاک انتظار هه نه لرئي."

## وفادور او بې وفا نيکار

(متي ۲۴: ۴۵ - ۵۱)

۴۱ پطروس وويل، "اې ايستوذه! ايا دا مثال ګوشائي دې مېژ دې پوره
دائي او که دې ټولې دې پوره؟" ۴۲ عيسىٰ ځاوب ويرکه، "بيا اغا وفادور او
ويشور نيکار څوک دائي چې مشر يې دې خپلې نيکارونې په سار وټکي،
ترخو په خپل وخت اغا ته خپله برخه خوړه ويرکو؟ ۴۳ بختاور دائي اغا
نيکار چې مشر يې روشي او اغا په خپله چار کې لګيا ووينې. ۴۴ په رشتيا
سره زه يايمه چې مشر و دې خپل ټول مول او جايداد زماواري اغا ته
وسپوري. ۴۵ خو که اغا نيکار دې خپل ځون سره ويائي چې مشر و مې
دامره زر رو نه شي او دې نورې ټولې نيکارونې په والې ټکاولې شيرې وکو،
وخورې، وتشې او نشه وکو، ۴۶ بيا مشر و يې په داسې وريځ روشي چې
اغا و يې انتظار هه نه لرې او داسې وخت کې و روشي چې اغا و خبر هه
نه وې. بيا مشر و اغا ته ساخته سازو ويرکو او اغا و په بې ايمونونې کې
وشميرل شي. ۴۷ خو اغا نيکار چې په دا پئيژې چې مشر يې څه غوړې،
خو بيا هه تايور نه دائي چې اغا کور وکو، بيا اغا و ساخت ووالل شي. ۴۸



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خو اغا نیکار چې په دا نه پئیژي چې مشر یې څه غوړي او څه غلط کور وکو چې دې سازو وړ وي، بیا لژ ووالل شي. چاته چې ډیر ویرکړل شي بیا ډیر و ځنې غوشتل کیژي. څومره ډیر چې چاته سپورل کیژي دامره ډیر ځنې غوشتل کیژي.“

## دې عیسیٰ په سبب بیلتون

**(متي ۱۰: ۳۴-۳۶)**

۴۹ عیسیٰ زیوته کړه، ”زه دې دغې دې پوره روغلئ یمه چې په منځکه یور ولګاومه او کاش چې دا یور مخته لګیدلئ وائي. ۵۰ زه و دې یوې ساختې بپتسمې نه تیریژمه او ترخو پره چې اغا تر سره شویې نه وي، دې مو زړه و څومره ناارامه وي. ۵۱ ایا توس ګمون کئ چې زه دې دغې دې پوره روغلائي یمه چې دنیو ته امن روالمه؟ نه، دې امن دې پوره نه، بلکې دې بې اتفاقئ اچاولې دې پوره روغلائي یمه. ۵۲ دې ځکه په دا نه دې ورستې چې پینځه کاسون په یوه کیر کې وي سره جدا و شي، درې کاسون و دې دوې کاسونې او دوه کاسون و دې درې په خلاف شي. ۵۳ پلور و دې زې په خلاف شي او زیائي و دې پلور په خلاف، مور و دې لیر او لیر و دې مور په خلاف، خوشیې و دې نژور او نژور و دې خوشیې په خلاف شي.“



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## دې وخت پيژاندل

(متي ۱۶: ۲ - ۳)

۵۴ په دا رانګ عيسیٰ خالک ته وويل، ”کله چې توس ووينئ چې
وريځې دې لمر پريواتې دې خو روپورته کيږي، بيا په مخ يايئ چې وور و
وشي او داسې کيږي. ۵۵ کله چې بود دې سويلي دې خو نه ولګيږي بيا
توس يايئ چې ساخته ګرمي و شي او داسې کيږي. ۵۶ اې منافقې! توس
کړائي شئ چې منځکې او اسمون ته په کاتلې سره دې اؤو دې حالت
پيشګوئي وکئ، بيا څرنګې ويسينئ زمونه نه شئ پيژاندلائي؟

## دې خپل مداعي سره روغه جوړه کړل

(متي ۵: ۲۵ - ۲۶)

۵۷ توس خپله ويلې دا پريکړه نه شئ کړائي چې کيمه ليار سامه دو؟ ۵۸
کله چې دې خپل مداعي سره قاضي ته ځئ، بيا په ليار کې کوشش وکئ
چې دې يغ سره روغه وکئ. که نه، بيا اغا و مو قاضي ته روخکاوي او
قاضي و توس پوليس ته وسپوري او په زندان کې و وچاول شئ. ۵۹ زه توس
ته يايمه چې تر يغي پره و دې زندان نه روخلوص نه شئ چې ترخو پوره مو
دې خپل پور يوه يوه پئيسه نه وي وير کړيې.“



Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

## توبه وبوسئ چې تباه نه شئ

۱۳ ① په دا وخت کې په اغا څوئي کې ځنې حاضرينې عيسیٰ دې
يغې جليليونې نه خبر که چې پيلاتوس اغا خدائ ته دې قربانئ مخته
کاولې په وخت کې وويژنل. ② عيسیٰ اغا ته په ځاوب کې وويل، ”ايا
ګمون کئ چې داغا جليليون دې جليل دې نورې ټولې پنډيدينکيې نه ډير
ګونانګورون وي چې په دا رانګ وويژنل شول؟ ③ نه، زه توس ته يايمه که
چيرې توس توبه ونه وبوسئ، بيا توس ټول و دې يغې په رانګ تباه شئ. ④
ليا اغا وتلاس کاسون چې په سيلوام کې په مونئ روولويده او مړه شول، ايا
ګمون کئ چې اغا دې يغې نورې ټولې خالکې نه چې په يروشلم کې
پنډيژې ډير ګونانګورون وي؟ ⑤ نه، زه توس ته يايمه که چيرې توبه ونه
بوسئ، بيا توس ټول و دې يغې په رانګ تباه شئ.“

## دې بې ميوې اينځر دې ونې مثال

⑥ بيا عيسیٰ اغا ته دا مثال رواړ، ”يوه ساړې خپل دې انګيرې په بوغ
کې دې اينځر يوه ونه کرليې وه. کله چې روغائې چې توغه روټول کو، ايخ
يې په کې پيدو نه کړل. ⑦ بيا خپل باغبون ته يې وويل: ’کسه، درې کوله
شې چې روشمه او په دا ونه کې ميوه غوړمه، خو ايخ مې په کې پيدو نه
کړل. دا ونه ووايه. دغې ونې ويلې اسې څوئي نيولائې دائې؟‘ ⑧ خو



Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

باغبون ورته ځاوب ويرکه: 'مشره! دا کول يې هه پرېږده، زه و دې يغې شو او خو منځکه وکندمه او سره و ورته وچاومه. ۹ که په روتلينکيې فاصل کې يې ميوه ونيوله بيا ډېره شه و وي، که نه بيا کړائي شې چې ويې وائي.'''

## عيسیٰ دې سبت په وريځ يوې شځې ته شفا ويرکاوي

۱۰ دې سبت په يوه وريځ عيسیٰ په عبادتخانه کې تعليم ويرکوه. ۱۱ وولته يوه شځه وه چې وتلاس کوله کيدل چې پيريونې نيوليې وه او اغا يې کمزوريې کړيې وه. ملا يې ورته داسې ګره کړيې وه چې بيخې سامه دريدليې نه شوه. ۱۲ کله چې عيسیٰ اغا شځه وليدله، بيا اغا يې روغوشتله او ورته ويې ويل، "اې خورې! ته دې خپلې بيمورئي نه خلوصه شوې." ۱۳ بيا يې خپل لوسينه په اغا بندې کشيشول او اغا په مخ نيغه ودريدله او دې خدائ ثنا يې وويله.

۱۴ خو دې عبادتخانې مشر دې عيسیٰ په دا کور چې دې سبت په وريځ يې بيمور ته شفا وير کړيې وه، خفا شه او خالک ته يې وويل، "په افته کې شپيژ وريځې دې چې بايد کور وشي، بيا په دا وريځې کې روځئ او شفا وميمئ، خو دې سبت په وريځ نه." ۱۵ خو عيسیٰ اغا ته ځاوب ويرکه، "اې منافقونې! ايا توس ار يو دې سبت په وريځ خپل غويه ليا خار



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

دې خوار نه نۀ خلوصه وائي او دې يبې دې پوره يې نه بيايئ؟ ⑯ بيا دا
شځه دې ابراهيم لير دو او وتلاس کوله شي چې دې شيطون په باند کې
وه. ايا اغا بايد دې سبت په وريځ دې باند نه ازوده نه شي؟" ⑰ دې
عيسىٰ په دا خبرې دې يغ مخالفين شرمنده شول، خو خالک دې يغ په دا
حيروناوينکي کورينه چې کړل يې، خواشول شول.

## دې شاړشمې دې تخم مثال

(متي ۱۳: ۳۱ - ۳۲ او مرقوس ۴: ۳۰ - ۳۲)

⑱ بيا عيسىٰ پشتنه وکړه، "دې خدائ بدشائي دې څه شي په رانګ
دو او اغا دې څه شي سره بروباره کمه؟ ⑲ دا دې شاړشمې دې تخم په
رانګ دو چې يوه ساړې اغا رووخست او په خپل پاتې کې يې وکاره. اغا
ستر شه او بيتۍ ځنې جوړ شه او مرغون روغلل او دې يغ په څونګې يې
مانځولې جوړې کړې."

## دې خميرې مثال

(متي ۱۳: ۳۳)

⑳ عيسىٰ يورې بيا پشتنه وکړه، "دې خدائ بدشائي دې څه شي سره
بروباره کمه؟ ㉑ دا دې يغې خميرې په رانګ دو چې يوه ښځه اغا وخلې



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او دي درې پېمونې دوڼې سره يې ګډه کو، ترڅو اغا ټول خميره شي.“

## دې تانګې دروزې مثال

(متي ۷: ۱۳-۱۴، ۲۱-۲۳)

۲۲ عيسیٰ يروشلم ته راون و او په ليار کې يې په شارينه او کلي کې
خالک ته تعليم ويرکوه. ۲۳ يو چا ځني پشتنه وکړه، ”ايستوذه! ايا ګوشي لژ
خالک و خلوصين وميمي؟“ عيسیٰ ځاوب ويرکه: ۲۴ ”زيوت کوشش وکئ
چې دې تانګې دروزې نه وير دننه شئ، دې ځکه زه توس ته يايمه چې
ډير خالک و دې نناوتلي اځه کو، خو وه و نشي کړائي. ۲۵ کله چې يورې
دې کير خاوند روچګک شي او وار باند کو، بيا توس و دې ورچاني پوتي
شئ او وار و ټکاوئي او وياييځ و چې اې شوغليه! وار خلوص که. خو اغا و
ځاوب دير کو چې زه توس نه پيژانمه چې دې کيم ځوئي نه روغلي يئ. ۲۶
بيا و توس يايئ: ’ميژ دې تو سره په يوه دسترخوان خواړلي او تشلي او تو
دې ميژ په چيلې کې تعليم ويرکوه.‘ ۲۷ خو اغا و بيا درته ويائي: ’زه توس
نه پيژانمه چې دې کيم ځوئي نه روغلي يئ. اې بادکوروني! دې مو دې
مخې نه لرې شئ.‘ ۲۸ کله چې توس وويئ چې ابراهيم، اسحاق، يعقوب
او ټول پيغمبرون دې خدائ په بدشاييځ کې دې خو توس ځني وروه شوي
يئ، بيا و ژوړئي او خپل غوشينه و چيچئ. ۲۹ خالک و دې خاتيځ او دې



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

لویدځ او قطبي او سویلي نه روښي او دې خدائ دې بدشايئ په ولماستيه
کې و کښيني. ۳۰ څوک چې ويس ورستي دي، اغا و اوال شي او څوک
چې اوال وي اغا و ورستي شي."

## دې يروشلم دې پوره دې عيسیٰ خافګان

(متي ۲۳: ۳۷ - ۳۹)

۳۱ په اغا وخت کې يو څو فريسيون عيسیٰ ته روغلل او ورته ويې ويل،
"دا ځوئي پريږده او چيرې بل ځوئي ته لوړ شه، دې ځکه چې هيروديس
غوړي تو وويژني." ۳۲ عيسیٰ اغا ته وويل، "لوړ شئ او اغا ګيدړ ته ويايئ
چې زه نن او سابو پيريون وبوسمه او خالک روغه ومه او په درمه وريځ و
خپل کور اخير ته وراساومه. ۳۳ په ار حال، زه بايد نن او سابو او بل سابو
خپل سفر ته دوام وير کمه، دې ځکه چې دا نه شي کيدائي چې يو
پيغمبر دا دې يروشلم نه وره په بل ځوئي کې وويژنل شي.

۳۴ اې يروشلمه! اې يروشلمه! اې اغا شاره چې پيغمبرون ويژني او کيم
کاسون چې دې خدائ دې خو نه دير لاژل کيژي، اغا سنګساره وې. مو
څو څو ووره وغوشتل چې دې تو خالک داسي سره روټول کمه لکه چرګه
چې خپل باچي دې خپلي وزرې لوندې راټولاوي، خو تو ونه غوشتل. ۳۵
کسه، دې توسې کير توس ته خالي پرياش کيژي. زه توس ته يايمه چې نور



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

و مو تر یغې ونه وینئ ترڅو اغا وخت روښي چې دا ویایئ:

’مبارک دائي اغا څوک چې دې تیشتن په نوم روخي.“‘

## عیسیٰ یوه بیمور ساړي ته شفا ویرکاوي

۱۴ ۞۱ دې سبت په یوه وریځ عیسیٰ دې ماړئي خواړلې دې پوره دې
فریسیونې دې ډالي دې یوه مشر کیر ته لوړ شه او وولته خالکې په ځیر اغا
ته کاتل. ۞۲ وولته عیسیٰ ته مخومخ یو ساړائي ویلوړ و چې دې پړسوب په
بیمورئي وخته و. ۞۳ عیسیٰ دې شریعت دې عالمونې او فریسیونې نه
پښتنه وکړه، ”ایا دې سبت په وریځ دې بیمورونې روغاول راوو دي که
نه؟“ ۞۴ خو اغا غلي پوتي شول. بیا عیسیٰ اغا ساړائي په لوس ونیوه، اغا
یې روغ که او ریخصات یې که. ۞۵ بیا عیسیٰ دې یغې نه پښتنه وکړه،
”که چیرې دې سبت په وریځ په توس کې دې کیم چا زیائي لیا غویه
کیي ته ولویږي، بیا ایا اغا و یې په مخ روو نه بوسي؟“ ۞۶ خو دې یغې
سره دې یغ ځاوب نه و.

## عاجزي او ولما پالنه

۞۷ کله چې عیسیٰ ولیدل چې ځنې ولمانې کوشش که چې ځونینې
دې پوره تر ټول نه شه ځائینه ونسي، بیا اغا ته یې دا مثال رواړ: ۞۸ ”کله



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چې څوک توس ته دې ورو دې ولماستيه دې پوره بالنه ديركو بيا دې
مجلس په سار کې مه کشينئ، دې ځکه کيدائي شي چې په توس نه
کيم بل ډير مهم ساړائي روبالل شوائي وي، ﴿٩﴾ او دې توسې کوربه چې
توسې دواسره يې روباللي يئ روشي او درته ويائي: 'خپل ځوئي دې دا
ساړي ته پريږده.' بيا و وشرميږې او مجبور و شې چې په ټول نه دې ورستې
ځوئي کې کشينې. ﴿١٠﴾ خو کله چې دې چا ولما شې، بيا لوړ شه او په
ټول نه دې ورستې ځوئي کې کشينه، ترڅو کله چې کوربه روشي او درته
ويائي: 'اې دې مو ملګريه! مخته کشينه.' په دا و دې نورې ټولې ولمانې
په مخکې دې تو عزت وشي، ﴿١١﴾ دې ځکه څوک چې خپل ځون ستر
ګڼي، اغا و خور شي او څوک چې خپل ځون عاجز کو، اغا و سرلوړائي
شي."

﴿١٢﴾ بيا عيسیٰ خپل کوربه ته وويل، "کله چې دې غارمې ليا دې
لماشوم ماړئي دې پوره څوک روغوړې، بيا خپل ملګري ليا خپل وريڼه ليا
خپلون ليا خپل مالدار ګاوندېيون ته بالنه مه ويرکاوه، دې ځکه چې اغا و هه
په ختې توته بالنه ديركو او په دا رانګ و دې تو بادال پيره کو. ﴿١٣﴾ خو کله
چې ولماستيه ويرکاوې، بيا غريبون، شيالون، ګوډون او ړوندون ته بالنه
ويرکاوه. ﴿١٤﴾ بيا ته و بختاور يې، دې ځکه چې اغا دې تو بادال نه شي
پيراکاولئ. خو دې قيامات په وريځ و خدائ تو ته دې نيکونې سره اجر



Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

دیرکو.“

## دې سترې ولماستیې مثال

**(متي ۲۲: ۱ - ۱۰)**

۱۵ کله چې دې حاضرې خالکې نه یو کاس چې په دسترخوان ورسره
نوست و دا ورویدل، بیا عیسیٰ ته یې وویل، ”بختاور دائي اغا خالک چې
دې خدائ په بدشائي کې و په ولماستیه کې کشیني.“

۱۶ عیسیٰ یغ ته وویل، ”یوه ساړي یو ستره ولماستیه جوړه کړه او ډیر
خالک یې رو وبالل. ۱۷ کله چې دې ماړئي وخت شه، بیا خپل نیکار یې
په ولمنو پسې ولاړه چې ورته وویائي: ’روشئ، ار څه تایور دي.‘ ۱۸ خو
یغې ټولې بونې شیري کړې. اول وویل: ’مو لړ منځکه وخستیې دو، باید
لوړ شمه او اغا ووینمه. مهربوني وکه دې مو وعذر ومنه.‘ ۱۹ بل وویل: ’مو
پینځه جوړې غویون وختي دي او راون یمه چې اغا وکسمه، مهربوني وکه
دې مو وعذر ومنه.‘ ۲۰ او بل وویل: ’مو نویې ورو کړیې دو، بیا دې دغ
اماله نه شمه دیرتلئ.‘ ۲۱ نیکار په ښتې روغائي او خپل مشر ته یې دا ار
څه وویل. مشر ډیر په قهر شه او خپل نیکار ته یې وویل: ’زر زر دې شار
لیارې او چیلې ته ووځه او غریبون، شیالون، ړونده او ګوډون رواله.‘ ۲۲ کله
چې نیکار په ښتې روګوډ شه، بیا ویې ویل: ’مشره! دې تو امر په ځوئي



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

شه، خو بیا هه دې نورې خالکې دې پوره څوئي شته.‘ ۲۳ بیا مشر خپل نیکار ته وویل: ’دې شار نه دې ورچانې سړکینه او چیلې ته ووځه او خالک په زور رواله، ترخو دې مو کیر ډاک شي. ۲۴ زه توس ته یایمه چې دې یغي خالکې نه چې اول مي ورته بالنه ویرکړیې وه ایڅوک و هه دې مو دې ولماستیه خواند ونه ښاکي.‘“

## دې مسیح دې شاګردئ قیمت

**(متي ۱۰: ۳۷-۳۸)**

۲۵ یو وور چې دې خالکې یوه ستره ډاله دې عیسیٰ سره راونه وه، عیسیٰ اغا ته مخ روړوه او ورته ویې ویل: ۲۶ ”که ښوک موته روښي او اغا دې خپل مور، پلور، خپلې ښځې او الودینې، خواندیې او وریڼې او حتي دې خپل ځون نه هه دې مو سره زیوته مینه ونه کو، اغا نه شي کړائي چې دې مو شاګرد شي. ۲۷ که چیرې ښوک خپل صلیب روونخلي او مو پسې رو نه شي، بیا اغا دې مو شاګرد کیدائي نه شي.

۲۸ فرض کئ چې په توس کې یو ښوک غوړې یوه مونځ جوړه کو، ایا اغا و اول نه کشیني چې خرچه یې جاواته کو، ترخو ووینې چې د یغ سره دامره پائسې شته چې اغا په سار ته وراساوې لیا نه؟ ۲۹ که نه، بیا بیزل و یې کندې، خو و وه نه شي کړائي چې سار ته یې وراساوې، بیا ار ښوک



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چې اغا وکسي ورپرې و وخوندي. ۳۰ اغا و يائي چې د غ ساړي دې
ويدونئ کور شيري که، خو ويې نه شول کړائي چې سار ته يې وراساوي.
۳۱ ليا کيم داسې بادشا و وي چې دې بل بادشا سره جاګړې دې پوره ځي
او دې د غ نه وره چې اوال کشيني او فکر وکو چې ايا دې خپل لاسې
زرې عسکرې سره و وکړائي شي دې يغ بل بادشا سره چې شل زره لشکر
لري، وجنګيژي؟ ۳۲ که چيرې اغا ونه شي کړائي، بيا په دا نه دې مخه
چې ديشمن ورته روراسيژي، اغا و غړې ولاژي او دې صولحې دې
شاړطينې په حق کې و ځنې غوشتنه وکو. ۳۳ په د غ رانګ په توس کې
ايخوک تر يغې پره دې مو شاګرد کيدائي نه شي، ترځو پره چې دې خپل
مول او دولت نه تير نه شي.

## دې بې خوانده مولګې مثال

(متي ۵: ۱۳ او مرقوس ۹: ۵۰)

۳۴ مولګه شه شائي دائي، خو که په خپله مولګه بې خوانده شي بيا و
اغا څرنګې په ښت خپل خواند پيدو کو؟ ۳۵ دې يغې نه نور نه دې
منځکې دې پوره او نه دې سرې دې پوره کور وخاستل کيژي او خالک
اغا لرې سنړ وائي. که څوک غوژينه لري، بيا اغا دا ووروي.“

## دې ورک شوي پسه مثال



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

(متي ۱۸: ۱۲-۱۴)

۱۵ ۞۱ په دا وخت کې ډېر ټيکس ټولاوينکي او ګونانګورون عيسیٰ ته
ويرنژدې شول چې دې يغ خبرې ورروي. ۞۲ خو فريسيونې او دې شريعت
عالمونې په خپله کې په ګنولې شيري وکړه او ويل يې، ”دا ساړائي دې
ګونانګورونې سره نوسته ويلوړه کو او حتي دې يغې سره يو ځوئي ماړئي
خوري.“ ۞۳ بيا عيسیٰ اغا ته دا مثال رواړ: ۞۴ ”که چيرې په توس کې
ځوک سل پسون ولري او يو پسه ځنې ورک شي، بيا اغا و څه کو؟ ايا اغا
و اغا نهه اتيالاس پسون په داشته کي پرې نژدي او په اغا ورک پسه پسې و
لوړ نه شي، ترڅو اغا پيدو کو؟ ۞۵ کله چې اغا روپيدو کو، بيا په
خواشولئ سره و يې خپلې ايژې ته پورته کو. ۞۶ او کله چې کير ته روشي،
خپل ټول ملګري او ګاونډيون و سره روټول کو او اغا ته و ويائي: ’دې مو
سره په دا خواشولئ کې شريک شئ، دې ځکه چې خپل ورک شوائي پسه
مې مينده که.‘ ۞۷ زه توس ته يايمه چې په د غ رانګ کله چې يو ګونانګور
توبه وبوسي، بيا په جنت کې و دې يغ دې پوره دې نهه اتيالاس نيکونې
په نسبت چې توبې ته اړتيا نه لري، ډېره خواشولي وي.

## دې ورکې شويې سيکې مثال

۞۸ ليا فرض کئ دې يوې شځې سره دې سپينې زارې لاس سيکې وي



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او یوه ځني ورکه شي. ایا اغا و څروغ بال نه کو، خپل کیر و ریبز نه کو او ټول ځائینه و ونه غوړي، ترڅو اغا روپیدو کو؟ ﴿۹﴾ کله چې اغا روپیدو کو، بیا خپل ملګري او ګاونډیون و سره روټول کو او اغا ته و ویائي: 'دې مو سره خواشولي وکئ، دې ځکه چې مو خپله ورکه شویې سیکه روپیدو کړه.' ﴿۱۰﴾ په د غ رانګ زه توس ته یایمه کله چې یو ګونانګور توبه وبوسي، بیا دې خدائ فرشتې و دې یغ دې پوره خواشولي کو."

## دې ورک شوي زي مثال

﴿۱۱﴾ بیا عیسیٰ وویل، "یوه ساړي دوه زامن لارل. ﴿۱۲﴾ کشر زي یې خپل پلور ته وویل: 'پلوره! موته مې خپله برخه جایداد روکه.' بیا یغ ساړي خپل جایداد دې خپلې دوې ساري زامنې ترمیانځ وویشه. ﴿۱۳﴾ څو وریځې دې ورستې کشر زي خپله برخه جایداد خارځ که او پائسې یې وخاستلې او یوه لرې وطن ته لوړ شه او خپلې پائسې یې وولته په عیاشئ کې بیځیه باربودې کړې. ﴿۱۴﴾ کله چې یغ خپل ار څه ولګاول، په یغ وطن کې ساخته قحطي روغله او اغا محتاج شه. ﴿۱۵﴾ بیا اغا لوړ شه او دې یغ وطن دې یو ساړي سره نیکار شه او یغ ساړي اغا خپل پاټیون ته ولاژه چې خنزیرون وسوتي. ﴿۱۶﴾ اغا په د غ ارمون و چې خپله ګډه په اغا خوړه بندې ماړه کو چې خنزیروني و خواړل، خو ایچا یغ ته څه نه ویرکاول. ﴿۱۷﴾ په اخیر کې دې یغ عقل سار



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ته روغائي او ويې ويل: ’دې مو دې پلور مزديرون دامره زيوت خوړه لري
چې ځني پوتې کيژې او زه دولته دې لوژې دې لوسه مړ کيژمه. ۱۸ زه و
چګ شمه او خپل پلور ته و ويرشمه او ورته و وه يايمه چې پلوره! مو دې
خدائ او دې تو په مخکې ګناه کړائي دائي. ۱۹ زه نور دې دغي وړ نه
يمه چې ته روته خپل زيائي ويايې. مو هه يو دې خپلې مزديرونې نه
وشميره.‘ ۲۰ بيا اغا چګ شه او دې خپل پلور کير ته راون شه. اغا ليا کير
ته نه و راسيدلئ چې پلور يې اغا دې لرې نه وليده، زړه يې په وسيو او په
منډه منډه دې خپل زي خوته ويراغائي. اغا يې په غيژ کې ونيو او کوشال
يې که. ۲۱ زي يې وويل: ’پلوره! مو دې خدائ او دې تو په مخکې ګناه
کړائي دائي. زه نور دې دغي وړ نه يمه چې دې تو زيائي وګاڼل شمه.‘ ۲۲
خو پلور يې خپل نيکارون ته وويل: ’زر شئ. په ټول نه شه چوغه رورئي او
يغ ته يې وغوندئي. ګوتيې وير په لوس کئ او ځاپلئ وير په پشې کئ. ۲۳
يو مزائې خسائي روالئ او الول يې کئ او روځئ ميله جوړه کي او
خواشولي وکي. ۲۴ دې ځکه چې دې مو زيائي مړ شوائي و او په ځتړ
روژواندائي شوائي دائي. اغا ورک شوائي و، خو ويس پيدو شوائي دائي.‘
بيا يغې جشن شيري که.

۲۵ خو دې يغ مشر زيائي په دا وخت کې په پاټي کې و. کله چې
روغائي او کير ته نژدې شه بيا دې سوز او ګاډو اووز يې ورويده. ۲۶ بيا يو



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

نیکار يې روغوښت او پښتنه يې ځنې وکړه: ’دا څه دي؟‘ ۲۷ نیکار ځاوب
ویرکه: ’دې تو ورور روغلئ دائي او پلور دې يو مزائې خسائي الول کړائي
دائي، دې ځکه چې اغا روغ رامیټ په ښټ روغلئ دائي.‘ ۲۸ خو مشر
ورور يې دامره په قهر شه چې نه يې غوښتل کیر ته نناوځي. پلور يې دې
ورچاني رووته او اغا ته يې زوري وکړه چې کیر ته نناوځي. ۲۹ خو یغ خپل
پلور ته په ځاوب کې وویل: ’کسه، کولینه کولینه شي چې مو لکه دې
غلام په رانګ دې تو خیذمات کړائي دائي او ایښکله مې دې تو دې امر
نه سار غړاونه نه دو کړیې. خو موته دې يو سیرلائي هه نه دائي روکړائي
چې خپل ملګري ته مې ولماستیه ویرکړیې وائي. ۳۰ خو د غ زي دې خپل
ټول جایداد په فاخشې بندې باربود که او کله چې په ښټ کیر ته روغائي
بیا تو ورته مزائې خسائي الول که.‘ ۳۱ پلور يې ورته وویل: ’دې مو زامنه!
ته ار وخت دې مو سره يې او زه چې ار څه لارمه اغا دې تو دي. ۳۲ خو
ویس باید جشن ونسي او خواشولي وکي، دې ځکه چې دې تو ورور مړ
شوائي و، خو ویس په ښټ روژواندائي شوائي دائي، اغا ورک شوائي و،
خو ویس پیدو شوائي دائي.‘“

## دې ځیرک ناظر مثال

۱۶ ۱ عیسئ خپل شاګردون ته وویل، ”یوه مالدار ساړي يو ناظر لوره.



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

دا ساړائي خبر شه چې ناظر دې يغ دنيو بيځيه لګاوي. ۲ بيا اغا يې روغوشت او ورته ويې ويل: 'دا څه دي چې دې تو په حق کې يې ورومه؟ څه دې چې وخستي او څه چې دې لګولي دي دې يغي ايثوب روکه، دې ځکه چې ته نور نه شي کړائي چې دې مو ناظر پنډه شي.' ۳ ناظر دې ځون سره وويل: 'دې مو مشر مو دې خپل کور نه ورړاوي، بيا ويس و زه څه کمه؟ زه خو دامره تاکړه نه يمه چې لوړ شمه او چيرته لاشتائي وکندمه او په خير غوشتلې هه شرميژمه. ۴ ويس پوئي شومه چې څه وکمه. کله چې مو دې چارې نه لرې کو، بيا زه بايد ملګري ولارمه چې موته په خپل کورينه کې ځوئي روکو.' ۵ بيا دې خپل مشر ار يو پيراوړئي يې روغوشت. اوالينې ته يې وويل: 'دې مو دې مشر څومره پيراوړئي يې؟' ۶ يغ ځاوب ويرکه: 'سل پئموني دې زيتونې تيل.' ناظر ورته وويل: 'خپل ايثوب رووخله، زر کشينه او دې يغ په ځي پنځوس وليکه.' ۷ بيا يې بل ته وويل: 'ته څومره پيراوړئي يې؟' يغ ځاوب ويرکه: 'سل ګينئ غانم.' ناظر ورته وويل: 'خپل ايثوب رووخله او دې يغ په ځوئي اتيا وليکه.' ۸ بيا مشر يې اغا بې ايمونه ناظر وستويه، په دا خاطر چې يغ په ځيرکئ سره داسي کور وکه، دې ځکه چې دې دغې دنيو خالک په خپله کې په روکړه ويرکړه کې دې ايماندوروني په نسبت ډير ځيرک دي."

۹ عيسیٰ زيوته کړه، "زه توس ته يايمه چې په خپلې دنياوي مالدارئي



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

دې نورې سره مراسته وکئ چې خپل ځونینه ته ملګرې پیدو کئ، بیا کله چې اغا مالداري خلوصه شي توس ته و په تل پوتې کورینه کې ځوئي دیرکړل شي. ⑩ ثوک چې په لږ شایون کې صادق وي، بیا اغا و په ډیر شایون کې هه صادق وي، او ثوک چې په لږ شایون کې صادق نه وي، بیا اغا و په ډیر شایون کې هه صادق نه وي. ⑪ که چیرې په دنیاوي مالداري بندې په توس اعتبار ونه شي، بیا په اصلي مالدارئي و ثوک په توسې اعتبار وکو؟ ⑫ که چیرې توس دې نورې خالکې دې مالدارئي دې پوره صادق نه شئ، بیا ثوک و توس ته اغا مالداري چې دې توس و وي، دیرکو؟ ⑬ ایخ غلام نشي کړلائي چې دې دوې مشروني خذمات وکو، دې ځکه چې یا خو و دې یوه نه کرکه کو او دې بل سره مینه او یا و یوه ته وفادور وي او بل ته و په الکه سترګه کسي. توسې نه شئ کړلائي چې هه دې خدائ باندګي وکئ او هه دې پائسې باندګي وکئ."

## شریعت او دې خدائ بدشائي

**(متي ۱۱: ۱۲-۱۳، ۵: ۳۱-۳۲ او مرقوس ۱۰: ۱۱-۱۲)**

⑭ فریسیونې چې دا خبرې ورویدلې بیا په عیسیٰ بندې یې مالانډې وواللې، دې ځکه چې یغې دې پائسې سره مینه لارله. ⑮ عیسیٰ اغا ته وویل، "توس داس خالک یئ چې خپل ځونینه دې نورې په مخکې



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

صادق شکاره کاوئي، خو خدائ دې توسې زړينه شه پيژاني. دې ځکه کيم شايون چې دې انسانونې په نَظير کې ډير ارزشت لري، خدائ اغا بد ګڼي.

۱۶ دې يحيیٰ تر روتلې پره خالکې دې تورات او دې پيغمبرونې په ليکنې عمل که. په اغا نه دې ورستې دې خدائ دې بدشايئ زرائي اعلان شه او ار څوک زيوت کوشش کو چې اغا ته وير دننه شي. ۱۷ دې منځکې او اسمون دې ميانځه تلل اسون دي، په دا نه چې دې شريعت يو ټکائې هه دې ميانځه لوړ شي.

۱۸ ار څوک چې خپله شځه طالوقه کو او دې بلې شځې سره ورو وکو، بيا اغا زنا کو او ار څوک چې دې طالوقې شويې شځې سره ورو وکو، اغا هه زنا کو."

## دې مالدار ساړي او ايلعازر مثال

۱۹ عيسیٰ وويل، "يو مالدار ساړائي و چې اره وريځ و يې تر ټولې قيمتي جومې وغاستلې او په عيش او عشرت کې يې ژوند تيروو. ۲۰ دې يغ دې دروزې په مخکې و يو سولګار چې ايلعازر نوميده او سيرات يې دې زاخمينې نه ډاک و، پروت و ۲۱ او په دا تامه و چې دې يغ مالدار ساړې دې دسترخوان نه په پوتې شويې ټوټې بندې ځون موړ کو. حتي سپې و



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

روتلل او دې يغ زاخمينه و يې څاټل.

۲۲ داسې وشول چې اغا غريب ساړائي مړ شه او فرشتې اغا دې ابراهيم
څانګ ته يواړ. بيا اغا مالدار ساړائي هه مړ شه او خورې ته وسپورل شه. ۲۳
اغا دې مړې دنيو ته لوړ شه وولته ډير په غضاب و. يغ چې پورته وکاتل دې
لرې نه يې ابراهيم وليد چې ايلعازر يې په خو کې و. ۲۴ بيا يغ سيرې کړې
او ويې ويل: 'اې دې مو نيکه ابراهيمه! په مو راحم وکه او ايلعازر روولږه
چې خپله ګوته په يبه کې لامده کو او دې مو ژبه په ساړه کو، دې څکه
چې زه په دا يور کې ډير په غضاب يمه.' ۲۵ خو ابراهيم وويل: 'زامنه! دير
په يود که، تو په خپل ژوند کې ټول شه شايون تر لوسه کړل او ټول بد
شايون دې ايلعازر په نصيب کې وې. خو ويس اغا دولته په ارام دائي او ته
په غضاب کې يې. ۲۶ په دانه علاوه پوسه، دې ميژ او توسې په ميانځ کې
يوه ستره کانده شته، چې په اغا نه څوک دير پورې کيدائي شي او نه
څوک څنې روپورې کيدائي شي.' ۲۷ اغې مالدار ساړې وويل: 'اې دې
مو پلوره ابراهيمه! زه تو ته زورئي کمه چې ايلعازر دې مو دې پلور کير ته
ولاڅه، ۲۸ دې څکه چې زه پينځه ورينه لارمه. پريژده چې اغا لوړ شي او
اغا خبر کو، اسې نه چې اغا هه دې دغې غضاب څوئي ته روشي.' ۲۹
ابراهيم وويل: 'دې يغې سره دې موسیٰ او نورې پيغمبرونې ليکنې شته، بيا
بايد دې يغې خبرې ته غوژ ونسي او عمل په وکو.' ۳۰ مالدار ساړې ځاوب



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ويرکه: ’نه، اې دې مو نيکه ابراهيمه! خو که دې مړې نه څوک اغا ته
ويرشي، بيا اغا و توبه وبوسي.‘ ۳۱ خو ابراهيم ورته ووېل: ’که چيرې اغا
دې موسیٰ او نورې پيغمبرونې خبرې ته غوژ ونه نسي، بيا که دې مړې نه
هه څوک روچګيژي، اغا و يقين په ونه کو.‘“

## دې اوزميشتينې او باخشنې په حق کې تعليم

**(متي ۱۸: ۶-۷، ۲۱-۲۲ او مرقوس ۹: ۴۲)**

۱۷ ۱ عيسیٰ خپل شاګردون ته ووېل، ”اوزميشتينه و خامخا روځي
خو چې دې چا دې لوسه روځي د يغې په حال افسوس دائي. ۲ دې يغ
پوره و دا شه وي چې دې ژراندې پل وير ته په غوړه کې وچاول شي او
داريوب ته سنړ والل شي، په ځوئ دې دغې چې په دا خالکې کې چې په
مو بندې دې واړيکيې په رانګ ايمون لري، دې يوه دې ګونانګورولې
سبب شي. ۳ پام کئ! که چيرې ورور دې درسره بدي وکو، بيا اغا سپک
که او که توبه وبوسي، بيا ويې باخشه. ۴ او که اغا دې وريځې اووه ووره
درسره بدي وکو او ار وور روشي او درته وياېي چې دې مو توبه دو، بيا اغا
وباخشه.“

## طاقتور ايمون



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۵ رسولونې عيسیٰ ته وويل، "دې مونږ ايمون طاقتور که." ۶ عيسیٰ وويل، "که چيرې توسې دې شاړشمې دې دونې په اندازه ايمون لرلائي، بيا توس کړائي شول چې دې تيت دا ونې ته ويايئ چې دې وليې رووځه او په داريوب کې روشنه شه. بيا اغا و دې توسې خبره منليې وائي.

## دې يوه نيکار وظيفه

۷ فرض کئ په توس کې کيم ځوک نيکار لري چې يوېې کو ليا پسينه سوتي. کله چې اغا دې پاټې نه روشي ايا مشر و ورته ويائي چې زر روشه، کشينه او ماړئي وخوره؟ ۸ ايځکله نه، دې دغ په ځوئي و اغا ته ويائي: 'موته دې لماشوم ماړئي تايوره که، ملا دې وتړه او ترځو پره چې زه ماړئي خورمه دې مو خيذمات که، په اغا نه دې ورستې کړائي شې چې خپله ماړئي وخورې.' ۹ ايا مشر و دې يغ نيکار نه چې دې يغ امر يې په ځوئي کړائي دائي، مننه وکو؟ ۱۰ او په دغ رانګ کله چې توس هه خپل ټول کورينه چې درته حکم شوائي دائي سار ته وراساوئي، بيا ويايئ: 'مونږ نيکارون دې شاباسي وړ نه يې، مونږ خالي خپله وظيفه سار ته رساوليې دو.'"

## عيسیٰ لاس جذوميون ته شفا ويرکاوي

۱۱ کله چې عيسیٰ يروشلم ته تئ، بيا دې جليل او سامريې ترميانځ په



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

پيله تير شه. ﴿۱۲﴾ اغا يوه کلي ته دېِ نناوتلې په وخت کې دېِ لاسې
کاسونې سره چې دېِ جذوم په بيمورې وخته وې، مخومخ شه. اغا لرې
ودريدل ﴿۱۳﴾ او په چګ اووز يې سيرې کړې، "اې عيسیٰ مشره! په ميږ
راحم وکه." ﴿۱۴﴾ عيسیٰ اغا ته وکاتل او ورته ويې ويل، "لوړ شئ او خپل
ځونينه امامونې ته وشايئ." څرنګې چې اغا راون شول، بيا پوک او روغ
شول. ﴿۱۵﴾ کله چې په اغا کې يوه کاس وليدل چې روغ شوائې دائې، بيا په
ښتې روګوړ شه او په چګ اووز يې دېِ خدائ ثنا وويله. ﴿۱۶﴾ اغا دېِ
عيسیٰ په پشې کې ولويد او دېِ يغ نه يې مننه وکړه. دا ساړائې يو سامرې
و. ﴿۱۷﴾ عيسیٰ وويل، "ايا ټول لاس کاسون پوک او روغ نه شول؟ بيا اغا نور
نهه کاسون چيرته دې؟ ﴿۱۸﴾ ايا دېِ دغ پرادې ساړې نه وره بل ښوک نه و
چې په ښتې روغلئ وائې او دېِ خدائ ثنا يې ويلېې وائې؟" ﴿۱۹﴾ عيسیٰ يغ
ساړې ته وويل، "چګيږه او لوړ شه، خپل ايمون ته روغ کړې."

## دېِ خدائ دېِ بدشايئ روتاګ

### (متي ۲۴: ۲۳ - ۲۸، ۳۷ - ۴۱)

﴿۲۰﴾ ځنې فريسيونې دېِ عيسیٰ نه پشتنه وکړه چې دېِ خدائ بدشائې و
کله روشې. عيسیٰ ځاوب ويرکه، "دېِ خدائ بدشائې په داسې رانګ نه
روځې چې اغا وليدل شې. ﴿۲۱﴾ نه و هه ښوک ويايې چې وکسئ، دولته دو



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ليا وولته دو. دې ځکه چې په اقيقات کې دې خدائ بدشائي دې توسې په ميانځ کې دو.“

۲۲ بيا يې شاګردونې ته وويل، ”داسې وخت و روشي چې توسې و په دا ارمون وائي چې اغا وريځ ووينئ چې دې انسان زيائي بدشائي کو، خو و ويې نه وينئ. ۲۳ خالک و توس ته ويائي چې وکسئ دولته دائي ليا وکسئ وولته دائي. خو توس په اغا پسې مه ځئ. ۲۴ دې ځکه په کيمه وريځ چې دې انسان زيائي روخي دې يغې بريشنو په رانګ و وي چې دې اسمون دې يوه سار نه تر بل سار پره چړکيژي. ۲۵ خو اول بايد اغا ډير کړاوينه وزغمي او دې دغې زمونې دې خالکې دې خو و راد شي. ۲۶ لکه څرنګې چې دې نوح په زمونه کې شوي وي، داسې و دې انسان دې زي په زمونه کې هه وشي. ۲۷ خالکې تر يغې وريځې پوره خواړل تشل، او ورو و يې کړې، ترڅو چې نوح کشتئ ته نناوت او سيلاب روغائي او ټول يې تباه کړل. ۲۸ دې لوط په زمونه کې داسې شوي وي چې يغې و خواړل، تشل، وخاستل او خرڅاول، کرنه يې کړله او ويدونئ و يې جوړاولې، ۲۹ خو په اغا وريځ چې لوط دې سدوم نه لوړ شه، بيا دې اسمون نه يور او دې ګيګاړې وور رووارېد او اغا ټول يې تباه کړل. ۳۰ په اغا وريځ چې دې انسان زيائي روجاوات شي، بيا داسې و وشي.



Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

۳۱ په اغا وريځ ځوک چې دې چات په سار وي او سامان يې په کوټه
کې وي، بيا اغا دا دې خپل سامان دې وړلي دې پوره روکيز نه شي. په
دغ رانګ ځوک چې په پاټي کې وي بيا خپل کير ته دا په ښټ لوړ نه
شي. ۳۲ دې لوط شځه دير په يود کئ چې دې يغي سره څه وشول. ۳۳ ار
ځوک چې دې خپل ځون دې سوتلي کوشش وکو بيا اغا و دې لوسه
ويرکو، او ځوک چې خپل ځون دې لوسه ويرکو، بيا اغا و يې وژغوري. ۳۴
زه توس ته يايمه، په اغا شپه کې که چيرې دوه کاسون په يوه کاټ کې
پروته وي، يو و يې بوتلل شي او بل و پريشول شي. ۳۵ دې دوې شځې نه
چې يوځوئي سره مچن کو، يوه و يې بوتلله شي او بله و يې پريشوله شي.
۳۶ که چيرې دوه ساړي په پاټي کې وي، بيا يو و يې بوتلل شي او بل و يې
پريشول شي.“ ۳۷ شاګردونې دې يغ نه پشتنه وکړه، ”چيرته، اې
ايستوذه؟“ عيسىٰ په ځاوب کې وويل، ”چيرته چې مردوړه وي، وولته دې
مردوړې مرغون روټوليژي.“

## دې يوې کونډې او قاضي مثال

**۱۸** ۱ عيسىٰ خپل شاګردون ته دا مثال رواړ چې اغا ته ويروشائي چې
ار وخت بايد داعو وکو او ايځکله ناميده نه شي. ۲ يغ وويل، ”په يوه شار
کې يو قاضي و چې نه دې خدائ نه ډاريده او نه يې دې خالکې پيروه


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

لارله. ۞ په دا ښار کې يوه کونډه وه چې ار وخت و اغا ته روتله او دې
خپل حق په خاطر و يې ورته زورئي کړلې او ويل و يې چې دې مو او دې
مو دې ديښمن ترميانځ لنجه کې دې مو سره انصاف وکه. ۞ قاضي ډېر
وخت نه غوښتل چې څه وکو، خو اخر اغا دې خپل ځون سره وويل: 'که
څه هه زه نه دې خدائ نه ډاريږمه او نه دې خالکې پيروه لارمه، ۞ خو دا
چې دغې کونډې موته سارخوژي پيدو کړيې دو، بيا زه و دې يغې سره
انصاف وکمه. که نه، بيا و اغا ار وخت روڅي او مو و تنګاوي.'"

۞ بيا عيسیٰ وويل، "وروئي چې دا بې انصافه قاضي څه ويائي. ۞
ايا خدائ و دې خپلې غوره شوېې خالکې سره چې شپه او وريځ ورته
فريودينه کو، انصاف ونه کو؟ ايا دې يغې سره و په مراسته کړلې کې ځانډ
وکو؟ ۞ زه درته يايمه چې اغا و زر دې يغې سره انصاف وکو. خو کله
چې دې انسان زيائي روښي، بيا ايا اغا و دې منځکې په مخ داسې څوک
پيدو کو چې ايمون ولري؟"

## دې يوه فريسي او ټيکس ټولاوينکي مثال

۞ په دغ رانګ عيسیٰ دې يغې خالکې دې پوره چې په خپل ځون
ډاډمن وي چې نيک خالک دي او نور يې الک ګاڼل، دا مثال رواړ: ۞
"يو وخت دوه کاسون چې يو فريسي او بل ټيکس ټولوينکائي و دې داعو



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

دېر پوره بیت المقدس ته لوړل. ۱۱ فریسي ودریده او دېر خپل ځون سره
یې داسې داعو وکړه: 'اې خدایه! دې تو شکر کمه چې دې نورې په
رانګ حرص، نه بې ایمونه او زناکور نه یمه او نه دې دغې ټیکس
ټولاوینکي په رانګ یمه. ۱۲ زه په افته کې دوې وریځې روژې نسمه او څه
چې ګټمه دې یغې لاسمه برخه ویرکاومه.' ۱۳ خو اغا ټیکس ټولاوینکائي
لرې ویلوړ و او تر داغا چې نه یې غوشتل چې پوس اسمون ته وکسي، خو
خپله سینه یې واله او ویل یې: 'اې خدایه! په مو ګونانګور راحم وکه.'"

۱۴ عیسیٰ وویل، "زه توس ته یایمه چې اغا ټیکس ټولاوینکائي چې
خپل کیر ته لوړ شه باخشل شوائي دائي، نه اغا فریسي. دې ځکه ار
څوک چې خپل ځون ستر ګڼي، اغا و خور شي او ار څوک چې خپل ځون
عاجز کو، بیا اغا و سرلوړائي شي."

## عیسیٰ واړیکیې ته براکات ویرکاوي

(متي ۱۹: ۱۳-۱۵ او مرقوس ۱۰: ۱۳-۱۶)

۱۵ ځنې خالکي و عیسیٰ ته خپل واړیکي رواستل چې خپل لوس په اغا
بندې کشیژدي. کله چې شاګردوني دا ولیدل بیا اغا یې سپک کړل، ۱۶
خو عیسیٰ اغا واړیکي خپل ځون ته رو وغوشتل او ویې ویل، "پریژدئي چې
واړیکي موته روشي، اغا مه مانې کاوئي، دې ځکه چې دې خدائ



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

بدشائي دې داسې خالکې دو. ۱۷ په يقين سره زه توس ته دا يايمه چې ار
څوک چې دې خدائ بدشائي دې يوه واړيکي په څير ونه مني، بيا ايخ
کله و اغا ته وير دننه نه شي.“

## مالدار خالک او دې خدائ بدشائي

### (متي ۱۹: ۱۶ - ۳۰ او مرقوس ۱۰: ۱۷ - ۳۱)

۱۸ يوه يهودي مشر دې عيسیٰ نه پشتنه وکړه، ”اې نيک ايستوذه! زه
بايد څه وکمه چې تل پوتې ژواندين وګاټمه؟“ ۱۹ عيسیٰ يغ ته وويل،
”ويلې موته نيک يائې؟ دې خدائ نه وره بل ايڅوک نيک نه دائي. ۲۰ ته
په حکمينه بندې پئيژې: زنا مه که، قاتل مه که، غلا مه که، دې درويغې
شائدي مه ويرکاوه او دې خپل مور او پلور عزت که.“ ۲۱ يغ ساړي ځاوب
ويرکه، ”مو دې ځوونئ دې وخت نه په دا ټول حکمينه عمل کړائي
دائي.“ ۲۲ کله چې عيسیٰ دا ورويدل بيا يغ ته يې وويل، ”په تو کې ويس
هه دې يوه شي کامائي شته. ار څه چې لرې اغا خارڅ که او پائسې په
غريبون بندې وويشه، بيا ته و په اسمون کې خزونې ولرې، بيا روشه او دې
مو پيروي وکه.“ ۲۳ کله چې اغا ساړي دا خبره ورويدله بيا ډير غمجن
شه، دې ځکه چې اغا ډير مالدار ساړائي و. ۲۴ کله چې عيسیٰ وليدل
چې اغا غمجن شه بيا ويې ويل، ”دې مالدارې خالکې دې پوره دې



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خدائ په بدشائي کې نناواتل څومره ګرون کور دائي. ۲۵ دې ستنې په
سروي نه دې ایش تیریدل اسون دي په دا نه چې یو مالدار ساړائي دا دې
خدائ بدشائي ته ویر نناوځي." ۲۶ کیمې خالکې چې دا ورویدل، بیا
دې یغ نه یې پشتنه وکړه، "بیا څوک کړائي شي چې خلوصین ومیمي؟" ۲۷
عیسیٰ ځاوب ویرکه، "اغا څه چې دې انسانونې دې پوره نه کیدینکي
دي، اغا دې خدائ دې پوره کیدینکي دي."

۲۸ پطروس وویل، "وکسه، میژ خپل ار څه پریشي دي او په تو پسې
راون شوي یې." ۲۹ عیسیٰ اغا ته وویل، "اې، په یقین سره زه توس ته دا
یایمه ار څوک چې دې خدائ دې بدشایئ دې پوره خپل کیر، خپله
شځه، وریڼه، مور او پلور او الودینه پریژدي، ۳۰ بیا اغا و په دا دنیو کې دې
دغې څو چنده بادال تر لوسه کو او په اخیرات کې و تل پوتې ژواندین
ولري."

## عیسیٰ دې درام وور دې پوره دې خپل مارګ په حق کې پیشګوئي کو

(متي ۲۰: ۱۷-۱۹ او مرقوس ۱۰: ۳۲-۳۴)

۳۱ بیا یغ خپل دولاس شاګردون ګوشي کړل او یغې ته یې وویل،
"وروئي! میژ ویس یروشلم ته څي او اغا څه چې پیغمبرونې دې انسان دې



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

زي په حق کې ليکلي دي، اغا و پيره شي. ۳۲ اغا و غير يهوديونې ته په
لوس ويرکړلائي شي. اغا و په مالاندې ووائي، سپکاوائي و يې وکو او لياړې
و په توئي کو. ۳۳ اغا و په کوړې ووائي او و ويې ويژني، خو په درمه وريځ
و بيا روژواندائي شي.“ ۳۴ خو شاګردون په دا خبرې پوئي نه شول، دې
ځکه چې دې دغې خبرې معنی دې يغې نه پټه سوتل شويې وه او اغا نه
پئيدل چې عيسیٰ دې څه شي په حق کې خبرې کړلې.

## عيسیٰ يو ړيند سولګار سترګاور کاوي

### (متي ۲۰: ۲۹-۳۴ او مرقوس ۱۰: ۴۶-۵۲)

۳۵ کله چې عيسیٰ اريحا شار ته نژدې شه، بيا يو ړيند ساړائي په ليار
کې نوست و او خير يې غوشته. ۳۶ کله چې يغ ساړې دې ګاڼ شمير
خالکې اووزينه چې په اغا ځوئي کې تيرېدل ورويدل، بيا پشتنه يې وکړه،
”څه خبره دو؟“ ۳۷ يغې ورته وويل، ”عيسیٰ ناصري په دا ليار تيريژي.“ ۳۸
بيا يغ سيرې ووالليې، ”اې عيسیٰ دې داود زامنه! په مو راحم وکه.“ ۳۹ کيم
خالک چې په عيسیٰ نه مخکې راون وي، اغا ساړائي يې سپک که او ورته
ويې ويل، ”غلائي شه.“ خو يغ نور هه په چګ اووز سيرې کړې، ”اې
دې داود زامنه! په مو راحم وکه.“ ۴۰ بيا عيسیٰ ودريده او امر يې وکه چې
اغا ساړائي يغ ته روواليې. کله چې ويرنژدې شه، بيا عيسیٰ ځنې پشتنه



Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

وکړه: ۴۱ "څه غوړې چې درته وېې کمه؟" يغ وويل، "اې شوغليه! غوړمه
چې سترګاور شمه." ۴۲ عيسیٰ يغ ته وويل، "سترګاور شه، ته خپل ايمون
روغ کړې." ۴۳ او اغا په مخ سترګاور شه او په داسې حال کې چې دې
خدائ ثنا يې ويله، په عيسیٰ پسې راون شه. کله چې خالکې دا ار څه
وليدل، بيا ټولې دې خدائ ثنا وويله.

## عيسیٰ دې زکي کير ته ځي

۱۹ ۱ عيسیٰ اريحا ته ننوات او دې شار دې ميانځه تيريده، ۲ بيا
وولته دې زکي په نوم يو ساړائي و چې دې ټيکس ټوله وينکي مشر او ډير
مالدار و. ۳ يغ غوشتل وکسي چې عيسیٰ و څرنګې ساړائي وي، خو دې
يغ قد ډير ټيټ و او دې خالکې دې ګاڼې ګيڼې دې اماله يې نه شول
کړائي اغا ووينې. ۴ بيا مخکې يې منډه کړل او دې څينور ونې ته
وخوت، ترڅو عيسیٰ ووينې دې ځکه چې اغا په داغا ليار تيريده. ۵ کله
چې عيسیٰ اغا ځوئي ته وراسيده، بيا پورته يې وکاتل او زکي ته يې وويل،
"اې زکي! زر روکيز شه، دې ځکه چې زه بايد نن دې تو په کير کې ولما
شمه." ۶ بيا زکي په بيړه روکيز شه او په ډيره خواشولي سره يې دې يغ
ارکلائي وکه. ۷ کله چې خالکې دا وليدل، بيا يې په بړيدل شيرې وکړه او
ويل يې، "اغا دې يوه ګونانګور ساړې کير ته ويراغائي چې ولما يې شي."



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۸ خو زکي ودريده او عيسیٰ ته يې وويل، ”وکسه شوغليه! زه مې خپله نيمه دنيو غريبون ته ويرکاومه او که دې چا نه مې په ناحقه کيم څه وخستي وي، بيا ځالور ګينه يې په ښټ ويرکاومه.“ ۹ بيا عيسیٰ وويل، ”نن دې کير ته خلوصين روغلئ دائي، دې ځکه چې دا ساړائي هه دې ابراهيم دې الود نه دائي. ۱۰ دې ځکه چې دې انسان زيائي روغلائي دائي چې ورک شوي وغوړي او اغا وژغوري.“

## دې لاسې نيکاروني مثال

**(متي ۲۵: ۱۴ - ۳۰)**

۱۱ يغې دې عيسیٰ خبرې ته غوژ نيولائي وه چې يغ ورته يو بل مثال هه رواړ، دې ځکه چې اغا يروشلم ته نژدې و او يغي ګمون که چې دې خدائ بدشائي و هه دا ويس روشکاره شي. ۱۲ عيسیٰ وويل، ”دې يوې سترې کوراني يو ساړائي يوه لرې ملک ته په سفر لوړ شۀ چې بادشا مقرار کړائي شي او په ښټ خپل وطن ته روشي. ۱۳ په دا نه دې مخه چې لوړ شي خپل لاس نيکارون يې روغوشتل او ار يوه ته يې يوه يوه دې سرې زارې سيکه وير کړه او ورته ويې ويل: ’دې مو په ښټ روتللې پره په کاروبار وکئ.‘ ۱۴ خو وطنولي يې چې دې يغ نه کرکه کړله، په اغا پسې خپل غړي ولاژل چې ورته ويائي: ’ميژ نه غوړي چې دا ساړائي دې ميژ بادشا شي.‘



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۵ څه وخت دې ورستې اغا دې بادشا په رانګ په ښتې روغائي، بيا يې
اغا نيکارون روغوشتل چې سيکې يې ورته وير کړيې وې، ترڅو ماليمه کو
چې په دئ کې ار يوه په اغا سيکې بندې څومره ګاټه کړيې دو. ۱۶ اوال
نيکار روغائي او ويې ويل: 'مشره! دې تو په يوه سيکه مې لاس نورې
سيکې ګاټلي دي.' ۱۷ يغ وويل: 'شاباس، ته شه نيکار يې. څرنګې چې
تو په لژ شي کې خپل ځون اعتباري ثابت که، بيا ته و په لاس شارينه
بندې حکومت کې.' ۱۸ دوام نيکار روغائي او ويې ويل: 'مشره! دې تو
دې سرې زارې يوې سيکې نورې پينځه سيکې ګاټه کړيې دو.' ۱۹ اغا ته
يې وويل: 'ته په پينځه شارينه بندې حکومت که.' ۲۰ بيا بل نيکار روغائي
او ويې ويل: 'مشره! دا دې تو دې سرې زارې سيکه، اغا مې په ريمول
کې ولاړاوليې وه او سوتليې مې دو. ۲۱ زه دې تو نه ډاريدمه، دې ځکه
چې ته يو ساخت ساړائي يې. اغا څه تر لوسه کاوې چې تو نه دي ګاټلي
او اغا څه ريبې چې کرلي دې نه دي.' ۲۲ مشر يې ځاوب ويرکه: 'اې
بيکوره نيکاره! زه تو په خپلې خبرې ګراماومه. ته په دا پئيدلي چې زه يو
ساخت ساړائي يمه او اغا څه تر لوسه کاومه چې دې مو نه دي او اغا څه
ريمه چې کرلي مې نه دي، ۲۳ بيا دې مو دې سرې زارې سيکه دې ويلې
دې صرافونې سره نه دو يشه چې دې په ښتې روګوډيدې په وخت کې مې
دې سيد سره وختيې وائي؟' ۲۴ بيا يې په اغا ځوئي کې ويلوړ کاسون ته



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وويل: ’دې يغ نه دې سرې زارې سيکه وخلئ او اغا نيکار ته يې ويرکئ
چې لاس سيکې ورسره دي.‘ ۲۵ خو يغې ورته وويل: ’مشره! دې يغ سره
خو ليا دې مخه نه لاس سيکې شته.‘ ۲۶ مشر يې وويل: ’زه توس ته يايمه
چې دې چا سره چې څه وي بيا اغا ته و نور هه ويرکړل شي، خو دې چا
سره چې څه نه وي بيا څه چې لري اغا و هه ځنې وخاستل شي. ۲۷ ويس
دې مو اغا ديشمنون چې نه يې غوشتل چې زه يې بادشا شمه، دولته روالئ
او دې مو په مخکې يې وويژنئ.‘“

## په يروشلم کې دې عيسیٰ شاهي هرکلائي

(متي ۲۱: ۱ - ۱۱ او مرقوس ۱۱: ۱ - ۱۱ او يوحنا ۱۲: ۱۲ - ۱۹)

۲۸ کله چې عيسیٰ دا خبرې وکړې، بيا دې خپلې شاګردونې نه مخکې
شه او دې يروشلم په لورې راون شه. ۲۹ څرنګې چې بيت فاجي او
بيت عنيا ته چې دې زيتونې په غره کې وي نژدې شه، بيا خپل دوه
شاګردون يې ولاژل، ۳۰ او ورته ويې ويل، ”داغا مخومخ کلي ته لوړ شئ.
کله چې اغا کلي ته نناوتلئ، بيا وولته و يو کتکائي ووينئ چې تاړل شوائي
و وي او دې ويسه پره څوک په سوور شوائي نه دائي. اغا روخلوص کئ او
دولته يې روالئ. ۳۱ که څوک درنه پشتنه وکو: ’اغا ويلې خلوصه وائي؟‘ بيا
داس ورته وياېئ چې اغا دې ميژ دې ايستوذ په کور دائي.“



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۳۲ اغا دوه شاګردون لوږل او لکه څرنګې چې عیسیٰ ورته ویلې وې، ار
څه یې هه اغا رانګ ولیدل. ۳۳ کله چې یغې کښکائي خلوص که، بیا
خاوندوني یې ځنې پښتنه وکړه، "دا کښکائي ویلې خلوصه وائي؟" ۳۴ یغې
ځاوب ویرکه، "دا دې میژ دې ایستوذ په کور دائي." ۳۵ او یغې اغا
کښکائي عیسیٰ ته رواست، خپل څاپیني یې په وچاول او عیسیٰ یې په
سوور که. ۳۶ کله چې اغا په لیار ته، بیا خالکې خپلې جومې ورته په لیار
کې سنړوالي.

۳۷ کله چې عیسیٰ اغا لیار ته نژدې شه چې دې زیتوني دې غره نه
روکیزه شویې وه، بیا ټول لیارتلینکي یې په خواشولئ او چګ اووز سره دې
یغې معجزې په خاطر چې یغې لیدلیې وې دې خدائ ثنا په ویلل شیري
وکړه. ۳۸ او ویل یې:

"مبارک دائي اغا بادشا چې دې تیشتن په نوم روځي.

سالومتي دا وي په اسمون کې او جلال دا وي تیشتن تعالی
ته."

۳۹ دې خالکې دې میانځ نه ځنې فریسیوني عیسیٰ ته وویل، "ایستوذه!
خپل شاګردون ته ویایه چې غلي شي." ۴۰ عیسیٰ په ځاوب کې وویل،



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

”زه توس ته يايمه که اغا غلي شي، بيا تيژې و سيرې شيري وکو.“

## عيسیٰ دې يروشلم په حال ژوړي

﴿٤١﴾ کله چې عيسیٰ يروشلم ته نژدې شه او شار يې وليده، بيا ورته په ژاړو شه ﴿٤٢﴾ او ويې ويل، ”کاش چې نن توته هه دې صولحې او سالومتئ ليار ماليمه وائي. خو نه، ويس دا ليار دې تو دې نَظير نه پټه دو. ﴿٤٣﴾ داسې وريځې و دربندې روشي چې دې تو ديشمنون و دير نه ګړد وړد ميرچې جوړې کو، په تو و روبادال شي او دې ارې خو نه و دې رو ويسور کو. ﴿٤٤﴾ اغا و تو او دې تو خالک دې منځکې سره اوور کو او په تو کې و يوه تيژه هه دې بلې دې پوسه پرې نژدې، دې ځکه چې تو دې خدائ دې روتللې وخت ونه پيژونده.“

## عيسیٰ دې بيت المقدس دې تالي نه سودوګرون ورړاوي

**(متي ٢١: ١٢-١٧ او مرقوس ١١: ١٥-١٩ او يوحنا ٢: ١٣-٢٢)**

﴿٤٥﴾ کله چې عيسیٰ بيت المقدس ته نناوت، بيا دې يغي خالکې په ياستل يې شيري وکړه چې وولته يې شايون خرخاول. ﴿٤٦﴾ اغا ته يې امويل، ”دې خدائ په کلام کې ليکل شوي دي:

’دې مو کير و دې داعو کير وي.‘



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خو توسې ځنې دې غلې دې پېيدلې ځوئي جوړ کړائي دائي."

٤٧ عيسیٰ اره ورېځ بيت المقدس کې تعليم ويرکوه. خو مشروني
اماموني، دې شريعت عالموني او قومي مشروني اخه کړله چې اغا وويژني،
٤٨ خو ايخ يې دې لوسه پيره نه وي، دې ځکه چې ټولې خالکې په ډېر
شاوق سره دې يغ خبرې ته غوژ نيولائي و.

## دې عيسیٰ دې اختيار په حق کې پشتنه

**(متي ۲۱: ۲۳ - ۲۷ او مرقوس ۱۱: ۲۷ - ۳۳)**

**۲۰** ۱ يوه ورېځ کله چې عيسیٰ په بيت المقدس کې خالک ته تعليم
ويرکاوه او زرائي يې ورته اعلانوه، مشرون امامون او دې شريعت عالمون
دې نورې يهودې مشروني سره روغلل ۲ او اغا ته يې وويل، "ته څه حق
لرې چې دا کورينه کې؟ چا توته دا اختيار دير کړائي دائي؟" ۳ عيسیٰ
اغا ته په ځاوب کې وويل، "زه هه دې توس نه يوه پشتنه کمه، موته ويايئ
چې ۴ دې يحيیٰ بپتسمه ويرکاول دې خدائ دې طاراپ نه وه ليا دې
انسان دې طاراپ نه؟" ۵ يغي په خپل ميانځ کې باحث وکه او ويل يې،
"که چيرې ويائي چې دې خدائ دې طاراپ نه وه، بيا و اغا ويائي چې
بيا توس ويلې په يغ بندې ايمون نه روارړ؟ ۶ خو که چيرې ويائي چې دې
انسان دې طاراپ نه وه، بيا ټول خالک و ميژ سنګسار کو، دې ځکه چې



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

اغا په دا عقیده دي چې یحییٰ پیغمبر و.“ ۷ بیا ځاوب يې ویرکه، ”میژ نه
پئیژي چې دې کیم ځوئي نه وه.“ ۸ عیسیٰ اغا ته وویل، ”زه هه توس ته
نه یایمه چې په کیم اختیار دا کورینه کمه.“

## دې انګیرې دې بوږ او باغبونې مثال

### (متي ۲۱: ۳۳-۴۶ او مرقوس ۱۲: ۱-۱۲)

۹ بیا عیسیٰ خالک ته دا مثال رواړ، ”یوه ساړي دې انګیر بوږ جوړ که
او اغا يې باغبونې ته په اجاره ویرکه او په خپله دې وژده وخت دې پوره یو
بل وطن ته لوړ شه. ۱۰ کله چې دې انګیرونې دې روټولاولې وخت
روراسیده، بیا یغ خپل یو نیکار زمیندوروني ته ویرولوژه چې دې بوږ دې
حاصلاتې نه دې یغ برخه روري. خو زمیندورونې اغا وویه او تش لوس يې
په ښتې ولاژه. ۱۱ بیا یغ بل نیکار ولوژه، خو زمیندورونې اغا هه وویه، اغا
يې بې عزته که او تش لوس يې په ښتې ولوژه. ۱۲ بیا يې درام نیکار
ویرولاژه، خو اغا يې هه زاخمي که او دې ورچاني يې سنړ ویه. ۱۳ دې
بوږ خاوند دې خپل ځون سره وویل: ’ویس څه وکمه؟ زه و خپل ګرون
زیائي ویرولاژمه، کیدائي شي چې دې یغ لحاظ وکو.‘ ۱۴ خو کله چې
زمیندورونې اغا ولیده بیا يې یو بل ته سره وویل: ’دا يې وارث دائي. روځئ
چې مړ يې کي، بیا میروث و يې دې میژ شي.‘ ۱۵ بیا اغا يې دې انګیرې



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

دې بوغ نه دې ورچاني ويوست او ويې ويژنه."

۱۶ عيسیٰ پښتنه وکړه، "دې بوغ خاوند و ويس دې يغې سره څه کو؟
اغا و روشي او دا زميندورون و وويژني او دې انګيرې بوغ و نور ته ويرکو."
کله چې خالکې دا ورويدل، بيا ويې ويل، "خدائ دا نه کو." ۱۷ عيسیٰ
اغا ته په څير سره وکاتل او پښتنه يې وکړه، "بيا دې زبور دې کيتوب دې
دغې برخې معنی څه دو؟

'کيمه تيژه چې راد کړيې خاټکړې وه

اغا ويس شوه اصلي تيژه دې بيزل.'

۱۸ ار څوک چې په دا تيژه رو ولويژي بيا ټوټې ټوټې و شي او که اغا تيژه په
چا بندې رو ولويژي، بيا اغا و زرې زرې کو."

## دې ټيکس ويرکاولې په حق کې پښتنه

(متي ۲۲: ۱۵ - ۲۲ او مرقوس ۱۲: ۱۳ - ۱۷)

۱۹ دې شريعت عالموني او مشروني اماموني غوشتل چې په اغا ساعت
عيسیٰ ونسي، دې څکه چې اغا پوئي شول چې دا مثال يې دې دئ په
حق کې وويه، خو دې خالکې نه ډاريدل. ۲۰ بيا اغا دې موقع په لټه کې
وي او څنې جاسوسونې يې چې خپل ځانينه يې صادقون وشول ولاژل،



Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

ترځو عیسیٰ په خپلې خبرې کې رو ونسي او اغا دې روم والي ته چې دې قدرات او واک خاوند دائي وسپوري. ﴿۲۱﴾ جاسوسونې عیسیٰ ته وویل، "ایستوذه! میژ پئیژي ته چې څه یائې او کیم تعلیم چې ویرکاوې اغا صحیح دائي. ته دې ایچا طاراپ نه کې بلکې په رشتینولائي سره دې خدائ دې لیارې تعلیم ویرکاوې. ﴿۲۲﴾ ایا میژ ته راوو دو چې بادشا ته ټیکس ویرکې که نه؟" ﴿۲۳﴾ عیسیٰ پوئي شه چې اغا ورسره چال کو، بیا ورته ویې ویل: ﴿۲۴﴾ "موته دې سپینې زارې یوه سیکه روشایئ. په اغا بندې دې چا تاوصیر او دې چا نوم دائي؟" یغې ځاوب ویرکه، "دې بادشا." ﴿۲۵﴾ عیسیٰ وویل، "بیا څه چې دې بادشا دي اغا بادشا ته ویرکئ او څه چې دې خدائ دي اغا خدائ ته ویرکئ." ﴿۲۶﴾ یغې ونه شول کړائي چې عیسیٰ دې خالکې په مخکې په خپلې خبرې کې رو ونسي او دې یغ په ځاوب حیرون شول، بیا غلې پوتې شول.

## دې قیامات دې وریځې په حق کې پشتنه

(متي ۲۲ : ۲۳ - ۳۳ او مرقوس ۱۲ : ۱۸ - ۲۷)

﴿۲۷﴾ بیا ځنې صدوقیون چې دې مارګ نه ورستې دې بیا روژواندې کیدلې نه منکر وي، عیسیٰ ته روغلل او دې یغ نه یې یو سول وکه: ﴿۲۸﴾ "ایستوذه! موسیٰ په شریعت کې میژ ته لیکلې دي چې که چیرې دې چا



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ورور مړ شي او شځه يې ځنې پوتې شي او الودينه ونه لري، بيا دې د غ
ساړي ورور بايد دې يغې کونډې سره ورو وکو، ترڅو دې يغې الودينه پيدو
شي او اغا يې دې مړه ورور الودينه وګاڼل شي. ۲۹ بيا داسې وشول چې
اووه ورېنه وي، اواليني يې شځه وکړه او بې الوده مړ شه. ۳۰ بيا دوم يې اغا
شځه وکړه، اغا هه بې الوده مړ شه. ۳۱ بيا درام اغا وکړله او په د غ رانګ
اووه سره ټول دې يغې سره ورو وکړلې او ار يو مړ شه، خو دې يوه هه الود
ونه شه، ۳۲ او په ټول نه دې ورستې اغا شځه هه مړه شوه. ۳۳ بيا دې
قيامات په وريځ و اغا دې کيم يو شځه وي؟ دې ځکه چې اووه سره ټول
دې يغې سره ورو کړيې وې.“

۳۴ عيسىٰ ځاوب ويرکه، ”په دا دنيو کې نر او شځې ورو کو، ۳۵ خو
کيم خالک چې دې روتلينکيې دنيو او دې مارګ نه دې بيا روژواندې
کيدلې لائق ګاڼل شوي دې، اغا يو دې بل سره ورو نه کو. ۳۶ اغا و نور
نه مره کيژي، دې ځکه چې دې فرشتې په رانګ و وي. اغا دې خدائ
الودينه دې، دې ځکه چې دې مړې نه دې ار وخت دې پوره روژواندې
شوي دې. ۳۷ او دا چې مړي بيا روژواندي کيژي، موسىٰ دا په خپله دې
سوځيدينکې بيټې په پيشه کې وشوله او وولته يې تيشتن دې ابراهيم
خدائ، دې اسحاق خدائ او دې يعقوب خدائ وبوله. ۳۸ اغا دې مړې
نه بلکې دې ژواندائي خدائ دائي، دې ځکه چې دې يغ په نَظير کې


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ټول ژواندي دي." ۳۹ دې شريعت ځنې عالمونې وويل، "ايستوذه! ډېر شه ځاوب دې ويركه." ۴۰ په اغا نه دې ورستې نور چا جرات ونه كه چې دې يغ نه بله پشتنه وكو.

## مسيح دې چا زيائي دائي؟

**(متي ۲۲: ۴۱ - ۴۶ او مرقوس ۱۲: ۳۵ - ۳۷)**

۴۱ بيا عيسىٰ دې يغې نه پشتنه وكړه، "اغا څرنګې ويلائي شي چې مسيح دې داود زيائي دائي؟ ۴۲ دې ځكه خپله داود دې زبور په كيتوب كې يائي:

تيشتن وويل دې مو مشر ته:

'كشينه دې مو شي لوس ته

۴۳ تر څو چې دې تو ديشمنون دې تو دې پشې لوندې كمه.'

۴۴ بيا كله چې داود مسيح ته مشر يائي، بيا دا څرنګې كيدائي شي چې اغا دې داود زيائي وي؟"

## عيسىٰ دې شريعت دې عالمونې په خلاف خبردارائي ويركاوي



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

(متي ۲۳: ۱ - ۳۶ او مرقوس ۱۲: ۳۸ - ۴۰)

۴۵ په داسې حال کې چې ټولې خالکې دې عيسیٰ خبرې ته غوږ
نيولائي وه، خپل شاګردون ته يې وويل: ۴۶ ”دې شريعت دې عالمونې
سره اختياط کئ. اغا دا خواشاوي چې په وږدې چوغې کې وګرځي او په
بازورينه کې ورته خالک سالوم وچاوي او غوره چې په عبادتخانې کې په
مخکې ځائينه او په ولماستيې کې په شه ځائينه کې کشينې. ۴۷ اغا دې
کونډې مولينه خوري او دې ځون وشونې دې پوره وږدې داعوګونې
کو. دې داسې خالکې سازو و دې ټولې نه ساخته وي.“

## دې يوې کونډې شځې نذرانه

(متي ۱۲: ۴۱ - ۴۴)

۲۱ ۱ عيسیٰ شو او خو وکاتل او ويې ليدل چې مالدار خالک خپلې
نذرانې دې بيت المقدس په خزونه کې اچاوي، ۲ او په د غ رانګ يغ يوه
غريبه کونډه وليدله چې خپلې دوې رييۍ يې په اغا خزونه کې وچاولې. ۳
عيسیٰ وويل، ”زه توس ته رشتيا يايمه چې دغې غريبې کونډې دې نورې
ټولې نه زيوتې پائسې وچاولې، ۴ دې ځکه چې يغې ټولې دې دنيو دې
زيوتولې دې واجې پائسې وچاولې، خو دغې شځې دې خپلې غريبۍ سره
بيا هه ار څه چې يې لارل وچاول.“



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

# دې بيت المقدس دې ړنګاولې پيشګوئي

## (متي ۲۴: ۱ - ۲ او مرقوس ۱۳: ۱ - ۲)

۵ ځنې شاګردونې دې بيت المقدس په حق کې خبرې کړلې او دې يغې کوشليې تيژې او شکرانې صفاتينه يې کړل چې بيت المقدس په کوشلائي شوائي و. عيسىٰ وويل: ۶ "دا شايون چې توس يې وينئ، داسي وخت و روشي چې په دا کي و يوه تيژه هه په بله تيژه پوتي نه شي او ټولې و روړانګې شي."

# دې اخري زمونې ناخشې

## (متي ۲۴: ۳ - ۱۴ او مرقوس ۱۳: ۳ - ۱۳)

۷ يغې پشتنه وکړه، "اې ايستوذه! دا ار څه و څه وخت پيشيژي او دې دغې پيشې دې رونژدې کيدلې ناخشې و څه وي؟" ۸ عيسىٰ وويل، "پام کئ چې بې لياري نه شئ. دې ځکه چې ډير و دې مو په نوم روشي او يائي و: 'زه مسيح يمه' او 'اغا وخت روراسيدلائي دائي.' خو په اغا پسې مه څئ. ۹ کله چې دې جنګې او ګاډ وډائي په حق کې کيم څه وروئي، بيا مه ډاريژئي. دې ځکه چې اوال و دا شايون خامخا پيشيژي، خو دې دغې دا معنى نه دو چې دا ار څه و په مخ اخر ته وراسيژي."



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۝١٠ بیا يې اغا ته وويل، "یو قوم و دې بل قوم سره جنګیږي، یوه بدشائي
و دې بلې بدشايئ سره جنګیږي. ۝١١ ساختې زلزلې و وشي، په ډېر ځائیون
کې و قحطي او وبوګونې روشي او په اسمون کې و ډارويکیې او سترې
ناخشې روشکاره شي. ۝١٢ خو په دا ار څه نه مخکې و اغا توس ونسي او و
مم ځوراوي. توس و دې محکمې دې پوره عبادتخانې ته وسپورل شئ او
په زندانينه کې و وچاول شئ او دې مو دې نوم په خاطر و دې محکمې
دې پوره بدشاونې او واليونې ته بوتلل شئ. ۝١٣ دا و دې توس دې پوره دې
شائدئي ويرکاولې یوه موقع وي. ۝١٤ په دغ حق کې ډېر فکر مه کئ چې
دې خپلې ځونينې و څرنګې دفاع کئ. ۝١٥ دې ځکه چې زه و توس ته
دې خبرې کړلې حکمت دیرکمه چې دې توسې دې دیشمنونې نه و
ایخوک ونه شي کړائي دې توسې په مخ کې وداريږي او ليا مخالفت کې
کامياب شي. ۝١٦ تر دغې چې دې توسې مور او پلور، وريڼه، خپلون او
ملګري و دې توس سره خيانت وکو او په توس کې و ځنې وويژنل شي ۝١٧
او دې مو دې نوم دې اماله و ټول خالک دې توس نه کرکه کو. ۝١٨ خو
دې توسې دې سار یو ويښته و هه کام نه شي. ۝١٩ ټینګ وداريږئي، بیا تل
پوتې ژواندين و وګاټئ.

## دې یروشلم دې ړانګیدلې پيشګوئي



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

(متي ۲۴: ۱۵ - ۲۱ او مرقوس ۱۳: ۱۴ - ۱۹)

۲۰ خو کله چې توس ووينئ چې يروشلم بندې لشکر روبادال شوائي
دائي، بيا پوئي شئ چې دې يغ دې ړانګيدلې وخت رونږدې شوائي دائي.
۲۱ بيا په اغا وخت کې چې څوک په يهوديه کې وي اغا دا غرينه ته
وتشتي. څوک چې په شار کې وي، بيا دې شار نه دا ووځي او څوک چې
دې شار نه دې ورچانې وي اغا دا شار ته نه نناوځي. ۲۲ دې ځکه چې دا
و دې سازو ويرکاولې وريځې وي، ترڅو اغا څه چې دې خدائ په کلام
کې ليکل شوي دي پيره شي. ۲۳ افسوس دا وي دې يغې ښځې په حال
چې په اغا وريځې کې اميدورې وي او په اغا مانديې بندې چې خپل
واړيکې ته شوده ويرکاوي. دې ځکه چې دې منځکې په مخ و ساخت
مصيبت روشي او په دا خالک و دې خدائ غضاب نازل شي. ۲۴ اغا و په
تيرې وويژنل شي او تول ملکينه ته و دې قيديونې په رانګ بوتلل شي او
يروشلم و دې غير يهوديونې دې خو تر پښې لوندې کيژي، ترڅو دې غير
يهوديونې دوران اخير ته ونه راسيژي.

## دې انسان دې زي روتاګ

(متي ۲۴: ۲۹ - ۳۱ او مرقوس ۱۳: ۲۴ - ۲۷)

۲۵ په لمر، سپيژمئ او ستورې کې و ناخښې روشکاره شي او قومينه و



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

دې منځکې په مخ دې داریوب دې شور او دې چاپې نه تنګ او پریشانه
شي. ۲۶ خالک و دې دغې پیښې دې ډوره او اندیشنې نه چې په دنیو
کې رومیانځ ته کیژي بې وشه شي، دې ځکه چې اسمونې وکارې و
ولړزاول شي. ۲۷ بیا و اغا دې انسان زیائي ووینې چې په وریځې کې و
دې قدرات او زیوت جلال سره رو راون وي. ۲۸ کله چې دا شایون شیري
شي بیا توس نیغ ودارئي او زیړاور پنډیژئي، دې ځکه چې دې توسې
خلوصین نژدې دائي."

## دې اینځر دې ونې نه عبرات وخاستل

### (متي ۲۴: ۳۲ - ۳۵ او مرقوس ۱۳: ۲۸ - ۳۱)

۲۹ بیا عیسیٰ اغا ته دا مثال رواړ، "دې اینځر ونې او نورې ونې ته
وکسئ. ۳۰ کله چې اغا غیتئ خلوصې کو، بیا توس خپل ووینئ او پئیژئي
چې ووړائي رونژدې شوائي دائي. ۳۱ په دغ رانګ کله چې دې دغ
شایونې پیشیدل ووینئ، بیا پوئي شئ چې دې خدائ بدشائي رونژدې
شویې دو. ۳۲ په یقین سره زه توس ته دا یایمه چې دا نسل و دې یغې پوره
دې میانځه لوړ نه شي، ترخو دا ټولې پیښې رومیانځ ته شویې نه وي. ۳۳
منځکه او اسمون و دې میانځه لوړ شي، خو دې مو خبرې و ایڅ کله دې
میانځه لوړې نه شي.



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## بئیدور پنډیژئي

۳۴ پام کئ، خپل زړینه په میلې، نشې او دنیاوي اندیشنې مه وخته
کاوئي، اسې نه چې اغا وریځ بیځیه په توس روشي، ۳۵ او لکه دې لیمي
په رانګ و دې دنیو تهول خالک چې په ارځوئي کې وي روګیر کو. ۳۶ بیا
بئیدور پنډیژئي او ار وخت داعو کئ، ترخو دا طاقات پیدو کئ چې دې
دغ تهولې شایونې نه چې ډیر زر و پیش شي، وژغورل شئ او دې انسان
دې زي په مخکې ودریدئي شئ.“

۳۷ عیسیٰ و دې وریځې بیت المقدس کې تعلیم ویرکوه. لماشوم و ووته
او شپه و یې دې زیتون په غره کې تیراوله ۳۸ او ستر ګائیز و تهول خالک
بیت المقدس ته ویرتلل چې دې یغ خبرې وروي.

## دې عیسیٰ دې ویژنلې دوسیسه

(متي ۲۶: ۱ - ۵ او مرقوس ۱۴: ۱ - ۲ او یوحنا ۱۱: ۴۵ - ۵۳)

**۲۲** ۱ دې پاطیرې ماړئي اختر چې دې فسحې په نومه مشهور و،
نژدې شه. ۲ مشرونې امامونې او دې شریعت عالمونې اخه کړله چې یوه
لیار پیدو کو چې عیسیٰ وویژني، خو دې خالکې نه ډاریدل.



Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

## يهودا اسخريوتي دا ته روضي كيژي چې دې عيسىٰ سره خيانت وكو

(متي ۲۶: ۱۴-۱۶ او مرقوس ۱۴: ۱۰-۱۱)

۞ بيا شيطون دې يهودا اسخريوتي په زړه كې چې دې يغې دولاسې شاګردونې نه و، نناوت. ۞ يهودا لوړ شه او دې مشرونې امامونې او دې بيت المقدس دې سوتينكيې افسرانو سره يې په دا حق كې خبرې وكړې چې څرنګې عيسىٰ اغا ته په لوس ويركو. ۞ اغا ډير خواشول شول او دې يغ سره يې دې پائسې وعده وكړه. ۞ بيا يهودا ورسره ومنله او يوه شه موقع يې غوشته چې كله دې عيسىٰ سره نور خالک نه وي اغا ته يې په لوس ويركو.

## دې فسحې دې اختر تايوري

(متي ۲۶: ۱۷-۲۵ او مرقوس ۱۴: ۱۲-۲۱)

۞ بيا دې پاطيرې ماړئې دې اختر وريځ چې په اغا كې و دې فسحې ورائې قرباني كيده، رو وراسيدله. ۞ بيا عيسىٰ پطروس او يوحنا ولاژل او ورته ويې ويل، "لوړ شئ او دې ميز دې پوره دې فسحې ماړئې تايوره كئ چې ويې خوري." ۞ يغې څنې پشتنه وكړه، "په كيم ځوئې كې غوړې



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چې تایوره یې کې؟“ ۝١٠ یغ ځاوب ویرکه، ”وروئي، ښرنګې چې شار ته
نناوځئ بیا یو ساړائي و دې توسې سره مخومخ شي چې دې یېې منګئ و
وري. اغا چې کیم کیر ته نناوځي توس هه وریسي لوړ شئ. ۝١١ او دې کیر
خاوند ته وياېئ: ’ایستوذ یائي دې ولماني کوټه چیرته دو چې زه په کې
دې خپلې شاګردونې سره دې فسحې ماړئي وخورمه؟‘ ۝١٢ اغا و توس ته
پوس په دوام چات کې یوه ستره فرش شویې کوټه دیر وشائي، بیا وولته
ماړئي تایوره کئ.“ ۝١٣ اغا لوړل او تړول شایون یې لکه ښرنګې چې عیسیٰ
ورته ویلي وي په اغا رانګ ولیدل او دې فسحې ماړئي یې تایوره کړه.

## دې فسح ماړئي

(متي ٢٦: ٢٦ - ٣٠ او مرقوس ١٤: ٢٢ - ٢٦ او لومړی قرنتیان ١١: ٢٣ -
٢٥)

۝١٤ کله چې اغا ساعت روراسیده، عیسیٰ دې خپلې رسولونې سره
دسترخوان ته کشینوست. ۝١٥ اغا ته یې وویل، ”زړه مې ډیر غوشتل چې
دې کړاویني دې زغملې نه مخکې دې توسې سره دې فسحې ماړئي
وخورمه. ۝١٦ دې ځکه زه توس ته یایمه چې ترڅو پره دې فسحې دې
قربانئ مقصد دې خدائ په بدشائي کې پیره نه شي، تر یغې پره و نوره دا
ماړئي نه خورمه.“ ۝١٧ بیا عیسیٰ پیوله روخاستله، شکر یې په ویوست او



Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

ويې ويل، ”دا وخلئ او په خپل میانځ کې يې وویشئ. ۱۸ دې ځکه زه توس ته یایمه چې په دا نه دې ورستې و تر یغې پرا دې انګیرې شاربات ونه تشمه، ترځو دې خدائ بدشائي رو نه شي.“ ۱۹ بیا یغ یوه ماړئي رووخستله، شکر یې په ویوست، اغا یې موته کړه او اغا ته یې ویرکړله او ویې ویل، ”دا دې مو سیرات دائي چې دې توسې دې پوره ویرکاول کیژې. دې مو په یود کې هه داسې کئ.“ ۲۰ په د غ رانګ دې لماشوم ماړئي نه ورستې یې پیوله رووخستله او ویې ویل، ”دا پیوله دې خدائ او انسانونې ترمیانځ نوائي لوظ دائي چې دې مو دې وینې په وسیله جوړیژي چې دې توس دې پوره توئیژي. ۲۱ خو کسئ، اغا ښوک چې دې مو سره و خیانات کو اغا دولته دې مو سره په دسترخوان نوست دائي. ۲۲ لکه ښرنګې چې دې خدائ دې خو مقرره وه چې دې انسان زیائي باید مړ شي، خو افسوس دې یغ چا په حال چې دې یغ سره خیانات کو.“ ۲۳ بیا اغا په خپله کې یو دې بل نه پښتنې شیري کړې چې په دئ کې و ښوک دا کور کو.

## دې ستر وولي په حق کې باحث

۲۴ بیا دې یغې تر میانځ باحث شیري شه چې په دئ کې و ښوک په ټول نه ستر وګاڼل شي. ۲۵ عیسیٰ اغا ته وویل، ”دې غیر یهودیونې بدشاون



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

په خپلې خالکې مشرې کو او واکمنون دې خالکې خیرخواه ګاڼل کیږې.

۲۶ خو توس داسې مه پنډېږئې، بلکې په توس کې دا تر ټول ستر خپل ځون واړیکائې وګڼې او مشر دا دې خیذماتګور په رانګ وې. ۲۷ بیا په دا دوا سره کې کیم یو ستر دائې، اغا ځوک چې ماړئې ته نوست دائې او لیا اغا ځوک چې خیذمات کو؟ په یقین سره اغا ځوک چې ماړئې ته نوست دائې. خو زه دې توسې په میانځ کې دې یوه خیذماتګور په رانګ یمه.

۲۸ خو توس دې مو دې اوزمیشتینې په وخت کې دې مو سره ویلوړ وائې. ۲۹ لکه ځرنګې چې دې مو پلور موته دې بدشایئ حق روکړائې دائې، زه هه توس ته دا حق دیرکاومه. ۳۰ توس و دې مو په بدشایئ کې دې مو په دسترخوان خورئې او تشئ او په تاختینه بندې و کشینئ او دې اسرائیلې په دولاس قابیلې بندې و حکومت کئ.“

## دې پطروس دې انکار په حق کې دې عیسیٰ پیشګوئې

**(متې ۲۶ : ۳۱ - ۳۵ او مرقوس ۱۴ : ۲۷ - ۳۱ او یوحنا ۱۳ : ۳۶ - ۳۸)**

۳۱ عیسیٰ وویل، ”اې شمعونه، اې شمعونه! وروه، شیطون غوړې چې اغا توسې لکه د غانمې دې دونې په رانګ وځاندوې، شه او بد سره ګوشې کو لکه ځرنګې چې زمیندور دې غانمې نه پیړ ګوشیا وې. ۳۲ خو شمعونه! مو دې تو دې پوره داعو کړیې دو چې ایمون دې دې میانځه لوړ



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

نه شي. کله دې چې توبه وياستله او په څټ رو وګرځيدلې، بيا خپل ورينه دې طاقتور که." ۳۳ پطروس ځاوب ويرکه، "اې ايستوذه! زه دې تو سره زندان او مارګ ته هه تايور يمه." ۳۴ عيسیٰ وويل، "اې پطروسه! زه توته يايمه چې نن شپه و دې چرګ دې بونګ نه مخکې درې ووره وياېې چې ته مو نه پيژانې."

## دې پائسې بټوه، کاڅوړه او تيره

۳۵ عيسیٰ دې يغي نه پښتنه وکړه، "کله چې مو توس بې دې پائسې، بې کاڅوړې او بې ښاپلئ ولاژلئ، ايا په اغا وخت کې توسې سره دې کيم شي کمي وه؟" يغې ځاوب ويرکه، "نه." ۳۶ عيسیٰ وويل، "خو ويس ارڅوک چې دې پائسې کاڅوړه لري اغا دا دې ځون سره وخلي او په د غ رانګ خپل پانډيکائي هه. او دې ار چا سره چې تيره نه وي، بيا خپله چوغه دا خارڅه کو او يوه تيره دا وخلي. ۳۷ دې ځکه زه توس ته يايمه چې دې پيغمبروني دا ليکنه بايد پيره شي چې يائي:

'اغا و په باغيون کې وشميرل شي'

دې ځکه ار څه چې دې مو په حق کې ليکل شوي دي اغا و رشتيا شي." ۳۸ شاګردونې وويل، "کسه ايستوذه! دې ميژ سره دولته دوې تيرې دي." عيسیٰ ځاوب ويرکه، "دا باس دي."



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## عیسیٰ دې زیتون په غره کې داعو کو

## (متي ۲۶: ۳۶ - ۴۶ او مرقوس ۱۴: ۳۲ - ۴۲)

۳۹ عیسیٰ دې ورچانې ووت او دې خپل عادات دې مخې دې زیتون
غره ته راون شه او شاګردون یې هه ورپسې لوړل. ۴۰ کله چې اغا ځوئې ته
وراسیده، بیا اغا ته یې وویل، "داعو وکئ چې په ازمیشت کې ونه لویژئي."
۴۱ بیا عیسیٰ دې یغې نه یو څو قدمه لرې لوړ شه، او په ګینډی شه او
داعو یې وکړه. ۴۲ یغ وویل، "اې پلوره! که چیرې دې تو راضو وي، بیا دا
پیوله دې مو نه لرې که. خو دې مو راضو نه بلکې دې تو راضو دا پیره
شي." ۴۳ بیا دې اسمون نه یوه فرشته اغا ته روشکاره شوه او اغا ته یې
طاقات ویرکه. ۴۴ عیسیٰ په ډیر ساخت حالات کې و او په ډیر جوش سره
یې داعو وکړه او خوله یې دې وینې دې سوسکیې په رانګ په منځکه بندې
څاکیدلې. ۴۵ کله چې عیسیٰ دې داعو نه روچګ شه، بیا شاګردون ته
روغائې او ویې لیدل چې اغا دې غمه ستومانه او ووده شوې وي. ۴۶ یغې
ته یې وویل، "توس ویلې ووده یئ؟ چګیژئي او داعو وکئ چې په ازمیشت
کې ونه لویژئي."

## دې عیسیٰ سره خیانت کړل او نیول

## (متي ۲۶: ۴۷ - ۵۶ او مرقوس ۱۴: ۴۳ - ۵۰ او یوحنا ۱۸: ۳ - ۱۱)



Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

﴿٤٧﴾ عيسیٰ ليا خبرې کړلې چې يوه ډاله روغله او يهودا چې دې يغې
دولاسې شاګردونې نه و، په اغا نه دې مخکې راون و. اغا عيسیٰ ته
ويرنژدې شه چې کوشال يې کو. ﴿٤٨﴾ خو عيسیٰ ووېل، "اې يهودا! ايا په
کوشلاولې سره دې انسان زيائې ديشمنون ته په لوس ويرکاوې؟" ﴿٤٩﴾ کله
چې دې عيسیٰ شاګردونې وليدل چې څه کيژي، بيا ويې ويل، "ايستوذه!
ايا په تيرې يې ووائې؟" ﴿٥٠﴾ دې يغې نه يو کاس دې ستر امام په نيکار بريد
وکه او دې يغ شائې غوژ يې پرې که. ﴿٥١﴾ خو عيسیٰ ووېل، "باس مه
کئ." عيسیٰ دې يغ ساړې په غوژ بندې خپل لوس کشياش او اغا يې روغ
که. ﴿٥٢﴾ بيا عيسیٰ مشرون امامون، دې بيت المقدس سوتينکې افسرانې او
نور قومې مشرون ته چې دې يغ دې نيولې دې پوره روغلې وې، ووېل، "ايا
زه کيم شيکاوينکائې يمه چې دې تيرې او لاوړونې سره دې مو دې نيولې
دې پوره روغلې يئ؟ ﴿٥٣﴾ زه اره وريځ دې توسې سره بيت المقدس کې ومه
او توسې دې مو دې نيولې اخه ونه کړه. خو دا وخت چې تياره ړانګه دو بيا
دې توسې وخت دائې."

## پطروس دې عيسیٰ نه انکار کو

**(متي ٢٦: ٥٧ - ٥٨، ٦٩ - ٧٥ او مرقوس ١٤: ٥٣ - ٥٤، ٦٦ - ٧٢ او يوحنا ١٨: ١٢ - ١٨، ٢٥ - ٢٧)**



Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

۵۴ يغې عيسیٰ ونيوه او دې ستر امام کير ته يې بوته او پطروس دې لرې نه پسې راون و. ۵۵ اغې دې موڼۍ په ميانځ کې يور بال که او ګرېد ورېد ځنې کشينوستل او پطروس هه دې يغې سره کشينوست. ۵۶ په داسې حال کې چې اغا دې يور رڼو ته نوست و يوې وينځې اغا وليده، بيا په ځير يې ورته وکاتل او ويې ويل، ”دا ساړائي هه دې عيسیٰ سره و.“ ۵۷ خو پطروس منکر شه او ويې ويل، ”اې شځې! زه اغا نه پيژانمه.“ ۵۸ لږ ورستې بل ساړې هه اغا ته وکاتل او ويې ويل، ”ته هه دې يغې دې ډالې نه يې.“ خو پطروس ووېل، ”اې وروره! زه نه يمه.“ ۵۹ شو او خو يو ساعت دې ورستې يوه بل ساړې تائيد کړه او ويې ويل، ”په دا کې ايخ شک نشته چې دا ساړائي هه دې عيسیٰ سره و، دې ځکه چې اغا هه جليلي دائي.“ ۶۰ خو پطروس ځاوب ويرکه، ”اې وروره! زه نه پئيژمه چې ته څه يائې.“ يغ ليا خبرې کړلې چې په مخ چرګ بونګ وکه. ۶۱ عيسیٰ مخ رووړو او پطروس ته يې وکاتل او پطروس ته دې عيسیٰ خبرې وير په يود شوې چې يغ ته يې ويلي وې، ”نن شپه و دې چرګ دې بونګ نه مخکې درې وووره ويايې چې ته مو نه پيژانې.“ ۶۲ پطروس دې ورچانې ووت او په سيرې سيرې يې وژاړل.

## دې عيسیٰ سپکاوائي او والل



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

(متي ۲۶: ۶۷-۶۸ او مرقوس ۱۴: ۶۵)

۶۳ کيمې خالکې چې دې عيسیٰ سوتنه کړله په اغا بندې مالانډې
ووالليې او ويې وويه. ۶۴ دې يغ سترګې يې وتاړلې او پشتنه يې څنې وکړه،
"ويس دې غيبه ويايه چې ته چا ووالې؟" ۶۵ او نورې ډيرې سپکې خبرې
يې هه ورته وکړې.

## عيسیٰ دې مذابي شورې په مخکې

(متي ۲۶: ۵۹-۶۶ او مرقوس ۱۴: ۵۵-۶۴ او يوحنا ۱۸: ۱۹-۲۴)

۶۶ کله چې وريځ شوه بيا قومي مشرون، دې امامونې مشرون او دې
شريعت عالمون سره روټول شول او عيسیٰ يې خپله شورا ته رواست. ۶۷
يغې ووېل، "ميژ ته ويايه چې ته مسيح يې؟" يغ ځاوب ويرکه، "که زه
توس ته ويايمه بيا په مو و يقين ونه کئ ۶۸ او که زه درخه پشتنه وکمه، بيا
توس و ځاوب رونه کئ. ۶۹ خو په دا نه دې ورستې و دې انسان زيائې
دې مطلق قادر خدائ شې لوس ته نوست وي." ۷۰ يغې تولې ووېل، "بيا
ته دې خدائ زيائې يې؟" عيسیٰ ځاوب ويرکه، "توس خپل يايئ چې زه
يمه." ۷۱ يغې ووېل، "نور ميژ شائدون ته اړتيا نه لرې. ميژ ار څه دې يغ
دې خپلې خولې نه ورويدل."



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## عیسیٰ دې پیلاتوس په حضور کې

(متي ۲۷: ۱ - ۲، ۱۱ - ۱۴ او مرقوس ۱۵: ۱ - ۵ او یوحنا ۱۸: ۲۸ - ۳۸)

۲۳ ۞ ۱ بیا دې شورا ټول غړي چټک شول او عیسیٰ یې پیلاتوس ته بوته
۞ ۲ او په اغا بندې یې په تومات لګاولې شیري وکړه او ویې ویل، "میژ
ولیدل چې دغ ساړي دې میژ قوم بې لیارې کووه او خالک یې بادشا ته
دې ټیکس ویرکاولې نه منع کاول او دعویٰ کو چې اغا خپل مسیح یعني
بادشا دائي." ۞ ۳ پیلاتوس دې یغ نه پشتنه وکړه، "ایا ته دې یهودیونې
بادشا یې؟" عیسیٰ ځاوب ویرکه، "ته په خپله یائي." ۞ ۴ بیا پیلاتوس
مشرون امامون او حاضرې خالکې ته وویل، "زه په دا ساړي کې ایخ رانګ
جرم نه وینمه." ۞ ۵ خو یغې ډېر ټینګور که او ویل یې، "اغا په ټوله یهودیه
کې په تعلیم ویرکاولې سره خالک روچګاوي. یغ دې جلیل نه شیري وکړه
او تر دغ ځوئې رو وراسیده."

## عیسیٰ هیرودیس ته لژل کیژي

۞ ۶ کله چې پیلاتوس دا ورویدل بیا پشتنه یې وکړه، "ایا دا ساړائي
جلیلي دائي؟" ۞ ۷ کله چې اغا خبر شه چې عیسیٰ دې یغې سیمې نه
دائي چې دې هیرودیس دې واکمنئ لوندې دو، بیا یې اغا هیرودیس ته
چې په اغا وخت کې په یروشلم کې و، ولوژه. ۞ ۸ کله چې هیرودیس



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

عیسیٰ ولید بیا ډېر خواشول شه، دې ځکه چې دې یغ په حق کې یې ډېر
څه اروېدلي وي او دې ډېر وخت نه یې غوښتل چې عیسیٰ ووینې. اغا په
دا تامه و چې دې یغ نه څه معجزه ووینې. ۹ بیا هیرودیس دې عیسیٰ نه
ډېرې پښتنې وکړې، خو عیسیٰ ایخ ځاوب ویر نه که. ۱۰ مشرون امامون او
دې شریعت عالمون ویلوړ وي او په عیسیٰ یې ساخت توماتینه ولګاول. ۱۱
هیرودیس او دې یغ عسکرې په عیسیٰ بندې مالانډې وواللې او دې یغ
سپکاوائي یې وکه، بیا یې دې بدشایئ چوغه ویر وغاستله او په څټ یې
پیلاتوس ته ویرولوږه. ۱۲ په اغا وریځ هیرودیس او پیلاتوس یو دې بل سره
ملګرې شول، دې ځکه چې په دا نه دې مخکې دې یغې دوې سارې په
میانځ کې دیشمني وه.

## عیسیٰ ته دې مارګ سازو ویرکاول کیږي

**(متي ۲۷: ۱۵ - ۲۶ او مرقوس ۱۵: ۶ - ۱۵ او یوحنا ۱۸: ۳۹ - ۱۹: ۱۶)**

۱۳ بیا پیلاتوس مشرون امامون، دې قوم مشرون او خالک روغوښتل ۱۴
او اغا ته یې وویل، ”توس دا ساړائي موته رواستلئ دائي او وایائ چې اغا
خالک بې لیارې کاوي. خو ویس مو دې توسې په مخکې دې یغ نه
پښتنې وکړې او په اغا کې مې اغا جرم ونه مینده چې توس په تومات
لګاولئ دائي. ۱۵ او نه هه هیرودیس په اغا کې کیم ګناه ولیده، بیا دې



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ځکه يې په ښځې مېړ ته رو ولوژه. شکاره دو چې يغ داسې کيم کور نه دائي کړائي چې دې مارګ لائق وي. ⑯ بيا زه و اغا دې يو ښو کوړې والې ورستې پرېژدمه چې لوړ شي." ⑰ [دې ځکه چې په اغا وخت کې دې رواج دې مخه اغا مجبور و چې په ار اختر کې اغا ته يو باندي ازود کو.]

⑱ خو ټولې خالکې په يوه اووز سيرې کړې، "دا ساړائي وويژنه! باراباس مېړ ته ازود که." ⑲ باراباس يو ساړائي و چې په شار کې دې بغاوت او قاتل په تومات زندان ته اچاول شوائي و. ⑳ پيلاتوس غوشتل چې عيسیٰ خلوص کو يو وور بيا يې اغا ته خبرې وکړې. ㉑ خو يغې سيرې والې، "په صليب بندې يې لاک که، په صليب بندې يې لاک که." ㉒ پيلاتوس دې درام وور دې پوره يغې ته وويل، "ويلې؟ څه جرم يې کړائي دائي؟ مو په اغا کې داسې کيم جرم ونه مينده چې دې مارګ لائق وګاڼل شي. بيا زه و اغا دې يو ښو کوړې والې ورستې پرېژدمه چې لوړ شي." ㉓ خو يغې ټينګور که او په چګ اووز سره يې سيرې والې چې اغا بايد په صليب لاک کړائي شي. خالکې دامره سيرې ووالې چې په اخير کې دې يغې سيرې بريولئ شوې. ㉔ بيا پيلاتوس دې يغې دې غوشتنې سره سامه پريکړه وکړه ㉕ او باراباس يې چې دې بغاوت او قاتل دې اماله زنداني شوائي و، دې زندان نه خلوص که او عيسیٰ يې اغا ته په لوس ويرکه چې ار څه



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وغوړي ورسره ويې کو.

## عیسیٰ په صليب بندې ميخ کيږي

**(متي ۲۷: ۳۲-۴۴ او مرقوس ۱۵: ۲۱-۳۲ او يوحنا ۱۹: ۱۷-۲۷)**

۲۶ کله چې عسکرې اغا په صليب بندې دې لاکاولې دې پوره بوته،
بيا يغې دې شمعون په نومه يو ساړائي چې دې قيروان نه و او دې کليولي
سيمې نه شار ته رارون و، رِوونيو. اغا يې مجبور که چې صليب په ايږه کو
او په عیسیٰ پسې يې يوسي. ۲۷ ګاڼ شمير خالک په عیسیٰ پسې راون و
چې په اغا کې شځې هه وې چې ځونينه يې والل او دې يغ دې پوره يې
ژاړو او وير که. ۲۸ عیسیٰ اغا ته مخ رووړو او ورته ويې ويل، "اې دې
يروشلم شځې! دې مو دې پوره مه ژوړئي، خو دې خپلې ځانينې او خپلې
الودينې دې پوره وژوړئي. ۲۹ دې ځکه چې داسې وريځې روتلينکيې دي
چې خالک و يائي چې اغا شځې بختاورې دي چې شانډې دي او
ايځکله يې واړيکي نه دي زيژاولي او ايځکله يې تئي نه دائي ويرکړائي. ۳۰
په اغا وخت کې و خالک غرينه ته ويائي چې په ميږ بندې رو ولويږئي او
غونډئي ته و يائي چې ميږ پټ کئ. ۳۱ دې ځکه که چيرې اغا دې شنې
ونې سره داس کور کو بيا دې وچې ونې سره و څه کيږې؟"

۳۲ دوه نور مجرمون يې هه دې عیسیٰ سره راون کړي وي چې دې يغ



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

سره یو ځوئي په صلیب شي. ۳۳ کله چې اغا یغ ځوئي ته چې دې سار
دې کاپارئي په نوم یودیده وراسیدل، بیا عسکرې عیسیٰ وولته په صلیب
بندې ټاک وایه او اغا دوه مجرمان یې هه ورسره په صلیب لاک کړل، یو
یې دې یغ شي لوس ته او بل یې دې یغ کیڼ لوس ته. ۳۴ عیسیٰ وویل،
"اې پلوره! دئ وباخشه، دې ځکه دئ نه پئیژي چې څه کو." عسکرې
دې عیسیٰ په جومې بندې خلائي وکه او په خپل میانځ کې یې سره
وویشلې. ۳۵ خالک دې سیل دې پوره وولته ویلوړ وي او یهودیونې
مشرونې په اغا بندې مالانډې والې او ویل یې، "یغ نور خالک ژغورل، که
چیرې اغا په رشتیا سره دې خدائ غوره شوائي مسیح وي، بیا ویس دا
خپل ځون وژغوري." ۳۶ عسکرې هه په اغا بندې مالانډې ووالې او اغا
دې عیسیٰ خو ته ویرنژدې شول او ترخه شاروپ یې ویرکړل ۳۷ او ورته ویې
ویل، "که چیرې ته دې یهودیونې بادشا یې، بیا خپل ځون دې وژغوره."
۳۸ دې یغ دې سار دې پوسه یوه تاخته لګاول شویې وه چې په لیکل شوي
وي، "دا دې یهودیونې بادشا دائي."

۳۹ یو دې یغې مجرمونې نه چې وولته لاک شوائي و عیسیٰ ته پیغور
ویرکه او ویې ویل، "ایا ته مسیح نه یې؟ بیا خپل ځون او میژ وژغوره." ۴۰
خو یغ بل مجرم اغا سپک که او ورته ویې ویل، "ایا ته دې خدائ نه نهٔ
ډاریژي؟ دې ځکه چې په تو بندې هه دې یغ په رانګ دې مارګ حکم


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

شوائي دائي. ۴۱ دې ميز سره انصاف شوائي دائي، دې ځکه چې ميز ته
دې خپلې عماليني سازو روکړل کيژي. خو د غ ساړي ايخ غلط کور نه
دائي کړائي.“ ۴۲ بيا يغ ووېل، ”اې عيسىٰ! کله چې خپله بدشائي ته
وراسيدې، بيا مو هه دير په يود که.“ ۴۳ عيسىٰ يغ ته ووېل، ”په يقين سره
زه توته يايمه چې ته و نن دې مو سره په جنت فردوس کې پنډيژي.“

## دې عيسىٰ مارګ

**(متي ۲۷: ۴۵ - ۵۶ او مرقوس ۱۵: ۳۳ - ۴۱ او يوحنا ۱۹: ۲۸ - ۳۰)**

۴۴-۴۵ دې غارمې شو او خو دولاس باجې وې چې غورمه ورک شه او
دې مسپيشين دې درې باجې پره په ټوله سيمه کې تياره ړانګه شوه او دې
بيت المقدس پاړده په ميانځ کې دوې ټوټې شوله. ۴۶ عيسىٰ په چګ اووز
سره سيره ووالم او وېې ويل، ”اې پلوره! زه خپل روح توته سپورمه.“ دا يې
ووېل او سياه يې وخاتله. ۴۷ کله چې رومي واکمن دا ار څه وليدل بيا دې
خدائ ثنا يې وويله او وېې ويل، ”دې شک نه وره چې دا ساړائي بې ګناه
و.“ ۴۸ اغا خالک چې دا لندورې ته روټول شوې وې، کله يې چې دا
پيشه وليدله، بيا دې غمه يې خپل ځونينه والل او په څټ خپل کورينه ته
لوړل. ۴۹ دې عيسىٰ ټول پيژندګالي او اغا شځې چې دې جليل نه په اغا
پسې روغليې وې په لرې فاصله کې ويلوړې وې او دا ار څه يې ليدل.



Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

## دې عیسیٰ شاخیدل

**(متي ۲۷ : ۵۷ - ۶۱ او مرقوس ۱۵ : ۴۲ - ۴۷ او یوحنا ۱۹ : ۳۸ - ۴۲)**

۵۰ وولته دې یوسف په نوم یو ساړائي و چې په یهودیه کې دې رامه دې
شار نه و او دې یهودیونې دې شورې غړائي و. اغا یو نیک او صادق
ساړائي و. ۵۱ خو دې یغې دې دغې پریکړې او د غ کور سره جوړ نه و او
دې خدائ دې بدشایئ په انتظار و. ۵۲ اغا پیلاتوس ته ویراغائي او دې
عیسیٰ مړائي یې ځنې وغوشت. ۵۳ بیا یغ دې صلیب نه مړائي روکیز که او
دې کتان په کفن کې یې ولاوړه و او په غور کې کندل شوي قبر کې یې
کشیاش چې دې د غ نه مخکې په کې څوک نه وي شاخ شوي. ۵۴ دا
دې جیمې وریځ وه، یعنې سبت ته دې تایورئي نیولې وریځ وه او دې
سبت وریځ شیري کیدله.

۵۵ کیمې شځې چې دې جلیل نه دې عیسیٰ سره روغلیې وې یوسف
پسې راونې وې. یغې قبر ولید چې دې عیسیٰ مړائي په کې څرنګې ایش
شوائي و. ۵۶ بیا اغا په ښت دې یروشلم شار ته لوړې او دې مړې دې پوره
یې خوشبوداري میسالې او عاطر تایور کړل او دې شریعت دې حکم دې
مخې یې دې سبت په وریځ ارام وکه.

## دې عیسیٰ بیا روژواندي کیدل



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

(متي ۲۸: ۱ - ۱۰ او مرقوس ۱۶: ۱ - ۸ او يوحنا ۲۰: ۱ - ۱۰)

**۲۴** ۞ دې دوام په وريځ ګائيز واختي شځې اغا تايور کړې
خوشبوداري ميسالې دې ځون سره وخاستلې او قبر ته لوړلې. ۞ يغې
وليدل چې تيژه دې قبر دې خولې نه روتيليدليې شوي وه. ۞ کله چې دې
ننه ويراغلې، بيا دې عيسیٰ مسيح مړائي يې وولته پيدو نه که. ۞ اغا ليا
حيروني ويلوړې وې چې بيځيه دوه ساړي چې چړکاوينکيې جومې يې
وغستيې وې دې يغې په خو کې ودريدل. ۞ شځې وډورې شولې او يغې
خپل سرينه ټيټ ونيول، بيا يغې ساړائي ورته وويل، ”توس ويلې ژواندي په
مړې شې غوړئي؟ ۞ اغا دولته نشته، اغا روژواندائي شوائي دائي. څه چې
يغ درته په جليل کې ويلي وي، اغا دير په يود کئ، ۞ چې دې انسان
زيائي بايد ګونانګوروني ته په لوس ويرکړل شي، په صليب و لاک کړائي
شي او په درمه وريځ و بيا روژواندائي شي.“ ۞ بيا اغا شځې ته دې
عيسیٰ خبرې وير په يود شوې. ۞ کله چې اغا په ښت دې قبر نه روغلې،
بيا يوولاس رسولون او نور ټول يې دې دغې پيشې نه خبر کړل. ۞ دا
شځې مريم مجدليه، يونا او دې يعقوب مور مريم وې او نورې شځې هه
چې دې يغې سره وې، رسولونې ته دا خبرې وکړې. ۞ خو دې يغې خبرې
رسولونې ته بې معنى شکاره شوې او په اغا يې يقين ونه که. ۞ خو



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

پطروس روچګ شه او دې قبر خوته يې منډه کړه. کله چې ويرټيټ شه او
دې ننه يې وکاتل، بيا دې کفن نه وره يې ايخ هه ونه ليدل. بيا په دا شويې
پيشې حيرون شه او خپل کير ته لوړ شه.

## دې عماوس په ليار کې دې عيسیٰ ليدل

**(مرقوس ۱۶: ۱۲-۱۳)**

۱۳ په اغا وريځ دې عيسیٰ دې ليارتلينکيې نه دوه کاسون دې عماوس
په نوم يوه کلي ته چې دې يروشلم نه يوولاس کيلوميټره لرې دائي راون وي.
۱۴ يغې دې يوه بل سره دې دغې ټولې پيشې په حق کې خبرې کړلې. ۱۵
يغې ليا يوه دې بل سره خبرې او باحث که چې په خپله عيسیٰ روغائي او
دې يغې سره يوځوئي شه. ۱۶ دئ عيسیٰ وليد، خو دې دئ سترګې داسې
شوې لکه چې وترلې شي او اغا يې ونه پيژونده. ۱۷ عيسیٰ اغا ته وويل،
"توس په ليار کې دې څه شي په حق کې يو دې بل سره باحث که؟" اغا
ودريدل او غمجن شکاره کيدل. ۱۸ په دئ کې يو کاس چې کليوپاس
نوميده دې يغ نه پشتنه وکړه، "ايا ته په يروشلم کې ګوشائي ميسوفر يې
چې دې دغې نه خبر نه يې چې په تيرې څو وريځې کې وولته څه پيش
شوي دي؟" ۱۹ عيسیٰ پشتنه وکړه، "څه شوي دي؟" يغې ځاوب ويرکه،
"اغا څه چې دې عيسیٰ ناصري سره وشول. اغا دې خدائ او ټولې



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خالکې په نَظير کې په وينو او عمل دواسره کې يو زوراور پيغمبر و. ۲۰ خو
دې ميژ مشروني اماموني او واکمنوني اغا پيلاتوس ته وسپوره چې دې
مارګ سازو ورته ويرکړل شي او اغا يې په صليب لاک که. ۲۱ ميژ ايله
لارله چې هه دا ساړائي و اسرائيلي ته خلوصين ويرکاوي. خو نن درمه وريغ
دو چې دا کور شوائي دائي. ۲۲ په دا دې پوسه، دې ميژ دې ډالې ثو
شځې ميژ حيرون کړي. اغا نن ګائيز واختي دې يغ قبر ته تلليي وې، ۲۳
خو دې يغ مړائي يې پيدو نه که. اغا په ښټ روغلې او ويل يې چې په رويا
کې يې فرشتې وليدلې چې دئ ته يې ويل چې اغا ژواندائي دائي. ۲۴ بيا
دې ميژ يو ثو کاسون قبر ته لوړل او څه چې يغي شځې ويلي وې اغا يې
وليدل، خو عيسیٰ يې ونه ليده.“

۲۵ عيسیٰ يغي ته وويل، ”توس ثومره ناپوئي يئ او دې پيغمبروني دې
وينو په منلې کې زړه نا زړه يئ. ۲۶ ايا دا ضروري نه وه چې مسيح دا
کړاوينه وويني او بيا دا خپل جلال ته وراسيژي؟“ ۲۷ بيا عيسیٰ دې موسیٰ
دې تورات نه وخله دې ټولې پيغمبروني تر ليکنې پره چې دې خدائ په
کلام کې خپله دې يغ په حق کې ليکل شوي وي، اغا ته بيان کړل.

۲۸ کله چې دئ اغا کلي ته ويرنژدې شول چې ورته راون وي، بيا
عيسیٰ داسې وکړل چې کنه اغا نور هه مخکې ثي. ۲۹ خو يغي ټينګور



Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

وکه او ویې ویل، ”دې میز سره پوتې شه، دې ځکه چې وریځ په تیرېدو دو
او لماشوم نژدې دائي.“ بیا عیسیٰ کیر ته نناوت چې دې یغې سره پوتې
شي. ۳۰ کله چې عیسیٰ دې یغې سره دسترخوان ته کشینوست بیا ماړئي
یې روخاستله، شکر یې په ویوست، موته یې کړه او اغا ته یې ویرکړه. ۳۱
بیځیه دې یغې سترګې وغړیدلې او عیسیٰ یې وپیژونده، خو اغا دې یغې
دې نَظیر نه پناه شه. ۳۲ یغې یوه بل ته وویل، ”کله چې په لیار کې اغا
دې میز سره خبرې کړلې او دې خدائ کلام یې روته بیانوه، ایا دې میز
زړینه په جوش رونغلل؟“

۳۳ اغا په مخ روچک شول او په ښتې یروشلم ته لوړل. وولته یې ولیدل
چې یوولاس رسولون او نور خالک سره روټول شوي وې ۳۴ او ویل یې چې
عیسیٰ په رشتیا روژواندائي شوائي او شمعون ته شکاره شوائي دائي. ۳۵ بیا
په لیار کې چې څه شوي وې یغې دوې سارې شاګردوني اغا ته بیان کړل
او ورته ویې ویل چې څرنګې یې عیسیٰ دې ماړئي موتاولې په وخت کې
وپیژونده.

## عیسیٰ خپل شاګردون ته ځون شکاره کاوي

(مرقوس ۱۶: ۱۴-۱۸ او یوحنا ۲۰: ۱۹-۲۳ او د رسولانو عملونه
۱: ۶-۸)



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۳۶ يغې ليا دې دغې پيشې په حق کې خبرې کړلې چې بيځيه عيسىٰ
دې يغې په ميانځ کې ودريده او اغا ته يې وويل، ”په توس دا سالومتي
وي.“ ۳۷ اغا ورخاطو شول او ساخت وډاريدل، دې ځکه ګمون يې که
چې دې مړي ارواخ ويني. ۳۸ خو عيسىٰ اغا ته وويل، ”ويلې دامره
ورخاطو يئ؟ دې توسې په زړينه کې ويلې داسې شکينه پيدو کيژي؟ ۳۹
دې مو لوسينه او پشې ته وکسئ او وکسئ چې دا زه په خپله يمه. په مو
لوس کشيژدئي بيا و پوئي شئ، دې ځکه چې ارواخ غوشه او اډيکيې نه
لري او لکه څرنګې چې توس يې وينئ، زه يې لارمه.“ ۴۰ کله چې يغ دا
وويل، بيا خپل لوسينه او پشې يې اغا ته وشول. ۴۱ اغا دې ډيرې خواشولئ
او حيرونتيې دې اماله نه شول کړائي چې بيا هه په دا يقين وکو، بيا عيسىٰ
دې يغې نه پشتنه وکړه، ”ايا دې توسې سره دولته دې خواړلې دې پوره څه
شته؟“ ۴۲ يغې ورته يوه ټوټه کباب شوائي کاب ويرکه، ۴۳ بيا اغا يې
وخاست او دې يغې په مخکې يې وخوړ.

۴۴ بيا عيسىٰ اغا ته وويل، ”دا دې مو اغا خبرې دې چې کله زه دې
توسې سره ومه او توس ته و مې ويل چې اغا څه چې دې موسىٰ په تورات،
دې پيغمبروني په ليکنې او دې زبور په کيتوب کې دې مو په حق کې
ليکل شوي دې، بايد رشتيا شي.“ ۴۵ بيا يې دې يغې ذهنينه روشانه کړل،
ترخو دې خدائ په کلام پوئي شي ۴۶ او اغا ته يې وويل، ”په د غ رانګ



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ليکل شوي دي چې مسيح بايد کړاوينه ووينې او مړ شي او په درمه وريځ و
بيا روژوانداٸي شي، ۴۷ او دې يغ په نوم و ټول قومينه ته دا پيغام وراساول
شي چې توبه وبوسي او خداۍ و يې ګونائينه وباخشي او شيري و يې دې
يروشلم نه وي. ۴۸ توس دې د غ ټولې شايوني شاٸدون يئ. ۴۹ او کسئ،
اغا ځوک چې دې مو پلور يې وعده کړيې دو، ديرلژمه. خو بايد تر يغې پره
په دا شار کې پوتې شئ، ترڅو په توس بندې اسموني طاقات نازل شي.“

## اسمون ته دې عيسیٰ خاتل

**(مرقوس ۱۶: ۱۹ - ۲۰ او د رسولانو عملونه ۱: ۹ - ۱۱)**

۵۰ بيا عيسیٰ اغا دي شار نه دې ورچانې تر بيت عنيا پره بوتلل، خپل
لوسينه يې پورته کړل او اغا ته يې براکات ويرکه ۵۱ او په داسې حال کې
چې اغا ته يې براکات ويرکوه دې يغي نه ګوشاٸي شه او اسمون ته پورته
يواړ شه. ۵۲ يغي ورته سجده وکړه او په ډيره خواشولي سره په ښت يروشلم
ته روګوډ شول. ۵۳ يغي خپل ټول وخت په بيت المقدس کې خداۍ ته په
ثنا ويلې تير که.

تاسو پوښتني لرئ؟ 9066.700.807 1+
مرکزي © afghanbibles.org